ليلى دښته

سترګو ليدلى حال

ليکوال

محمد اجان یار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	:: ليلى د ښته، سترګو ليدلى حال
ليکوال	:: محمد اجان يار
خپروونکى	:: د پښتونخوا د پوهنې د ېره _ پېښور
چاپوار	:: لومړى
چاپ نېټه	:: 1383ل/2004م
چاپ شمېر	:: 1000 ټوکه
کمپوزر	:: شفق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکیو !

زمونږ د ګران هېواد تېرې ناخوالې او ځینې ژوندۍ کیسګې راته رڼې رڼې ګوري. باور وکړئ، چېرې د لیکوالۍ پخوا نه وم ورغلی. یوازې به مې شعرونه کله ناکله لیکل، خو د کله نه چې دا پېښځه ویشت کلنه غمیزه پیل شوې ده، زه هېڅ دې ته اړ ایستی یم، چې د خپل هېواد او ولس د پېښو خام انځور په کاغذ اوباسم.

د لیکوالۍ لوړ هنري انداز نه لري، خو صرف یوازې ستاسې نظر د لیلی دښتې ته اړوم. کومې زیاتې خبرې پکې نشته دی، د شمس الدین اکا د سترګو لیدلی حال دی.

ستاسې د وطن د لیلی په دښته کې.

محمدا جان یار

کولن، جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجي ګل تازه له وطن نه راغلی و. ستړي مشي مې ورسره وکړه، د کلي نور خلک هم د هغه ستړي مشي ته راغلي وو. ماته يې په غوږ کې وويل: دا خلک چې ولاړل، بيا به درسره خبرې وکړم. وړاندې د کټ لنګې ته مې تکيه وکړه، ناستو کسانو خپلو کې ډېر څه سره ويل. ماته تمه پيدا شوه، زړه کې مې له ځان سره ويل: لکه چې حاجي ګل نوې کيسې له ځان سره راوړي دي. چا راته د چای پياله ونيوه او يو غړپ مې ترې وکړو. مخکې راغلي کسان وار په وار پسې وتل، ترڅو چې ټول ولاړل. هغه له دروازې نه په منډه راستون شو، په دوه ګامه زما خواته راورسېد، لومړی مې ترې پوښتنې د هغه د کورنۍ د غړو وکړه. خوله يې ونيوه، د روغ ناروغ سم ځواب يې رانه کړ.

ما وې: ځنګه غړه کنده شوې خبره کوه، هو رښتيا تا ويلې دا خلک ولاړ شي بيا به درته يو څه خبرې وکړم. هغه څه خبرې دي؟

هغه لومړی سوړ اسويلی ويوست، لږ غلی شو بيا يې داسې وويل:

د ويلو کيسې نه دي. زه خوا ته ورنږدې شوم، ما وې اوس به بيا څوک راشي، هله ماته کيسه کوه. ويلې قسم دې ماته چې چا دغه کيسه کوله، د سر ويښتان مې نېغ ودرېدل ده وی. جلال اباد کې دا يوه اوونۍ مخکې زموږ د يوه خپلوان دوکان مخې ته د سپينې ږيرې يو سړی چوپ ناست و. زه په ډېر ادب سره د هغه خواته ورنږدې شوم، ما وې کاکا جانه د کوم ځای يې؟.

هغه يو لاس په امسا ايښی و، ويلې بچيه زه د مومندرې يم، خو په مزارشريف کې مې مځکه او کور شته دی. د سپين ږيرې زړه ډک و، سم راته راګويا نه شو. زه ورنږدې شوم، ورته ومې ويل: کاکا جانه که تکليف درته نه وي، ټوله کيسه راته وکړه. ده ويلې وړوکی وم، مور مې پخوا له ځان سره بيولی وم، پلار مې څو کاله پخوا ترکستان ته تللی و، زه او مور مې پسې وروسته ولاړه.

وزير محمد ګل خان مومند دې خدای وبښي، ډېر پښتانه يې قطغن زمين، مزار شريف، کندز، بغلان او پلخمري ته انتقال کړي وو. شبرخان ناشر، نازکمير دوی کندز اباد کړی و، هغوی هم پښتانه ورانتقال کړي وو. ښارې مځکې ابادې شوې وې، پلار مې دې الله په جنت کړي، ويل به يې لومړی دا ټول کندز ښار او ځنګل زار و. د وخت په تېرېدو سره ورته خلک راتلل او ښارې مځکې يې ابادولې. تاجکو، ازبکو او لږه کيو ترکمنو هم پکې ځای پرځای کلي ودان کړل. لارې او سړکونه ويستلشول، د خلکو تګ راتګ زيات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچې مور مې راتـه ويلـې ايلـه د دري کـالو بـه وې، چـې د (لتـه بنـد) پـه لاره پـه يـوه زوړ واګـون ګـاډي کې پلخمري تـه پـه دوه شپو او دوه ورځـو کې ورسـېدو او دا يـې هـم ويـل، چې پـه زياتـه لاره باندې مې پـه خره وړی وې. د هغې وخت سړکونه خو د نن پـه شان نـه وو ، دلتـه بند او د واب ميخ زرين لارې خو پـه غرونـو کې پـه کړپـو او ګړنګونـو کې تللې وې. پـه زيـاتو ځـايونو کې بـه خلک لـه مـوټر نـه کوزېدل او پخپلـو پښو بـه تلل. پـه څو شپو ورځـو کې بـه قطغـن تـه واوښـتل. پـه دغـو مځکـو کې تـګ راتـګ ځکـه سخت و ، چې شرمخانو او لېوانـو بـه خلـک داړل. د خلکـو تـګ راتـګ ډلـه ييـز و ، څو تننـه بـه سره يوځـای کېـدل بيا بـه لـه يـوې سيمې نـه بلـې سيمګې تـه تلـل. وروسـته بيـا يـو نـيم ګـاډی (مـوټر) پيـدا شـو. سړکونه ووهـل شـول، د خلکـو لېږدېدنـه لـږه اسـانه شـوه. بچـی زمـا لـږلـږ يـادېږي، چـې لـومړی مـوږه پـه پلخمري کې اوسـېدلو. زه چې کلـه رابـوټکی شـوم، پـه ښـو بـدو وپوهـېدم، پـلار مـې پـه حق ورسـېد. هغـه مې مومنـد درې تـه راوړ، څـه مـوده پـس مـې مـور مړه شـوه، هغـه مـې هـم خپلـې هـديرې تـه راوړه. څـه پيسـې مـې چـې درلـودې، د مـور و پـلار پـه مړينـه کې ولګـېدې. زه لـه يـوه ورور او دوه خوېندو سره پـاتې شـوم. لـه بغـلان نـه مـو کنـدز تـه د تلـو نيـت وکـړ. پخپلـو پښو تـر کنـدوزه ولاړو. پـه دوه ورځـو کـې تـر کنـدوزه ورسـېدو. مـوږ پـه کنـدوز کې پـوره يـو کـال تېـر کـړ. د خلکـو سره بـه مـې د شاړو مځکـو پـه ابـادولو کـې کـار کـاوه. هغـوی بـه غلـه دانـه راکولـه، يـو کـال وروسـته بيـا مزارشريف تـه کـډه شـوو. د منـي شپې ورځـې وې، هـوا مـخ پـه يخېـدو وه، هلتـه مـو يوځـای او بـل ځـای شـپې ورځـې تېرولـې، ترڅو چـې يـوه وطنـدار لـه ځـان سره شـولګرې تـه بوتلـو او هلتـــه مـو واړول. پـه دغـه وخـت کـې مـې ورور زلمـوټی شـوی و ، خوېندې مې لا وړې وې.

څو کالـه مې لـه يـوه اربـاب سره کـار کـاوه. ورور مـې هـم راسره پـه کـار کـې بوخـت و. هلتـه د نـاقلينو لـوی کلـی ابـاد شـوی و. شـاوخوا نـور د پـښتنو کلـي ابـاد شـوي وو. هـر چـا ځانتـه مځکـه اخيسـتې وه، باغونـه جـوړ شـوي وو ، هـره خـوا ښـه شـنه ښـکارېده. پـه درې کـالو کـې مې يو څـه پيسـې پيدا کـړې، مځکـه مې واخيستله، مـا هـم ځانتـه کـلا جـوړه کـړه. د کلا مخې تـه مـې بـاغ او باغچـه جـوړه کـړه. ځانتـه مـې واده وکـړ. ورور تـه مـې هـم کـوژده وکـړه. لـږه مـوده پـس مـې څـو اسـتحقاقه ځمکـه نـوره واخيـستله پـوره غلـه دانـه بـه کېدلـه. مالـداري مـې ډېـره وه.

پـه دې وخـت کـې يـې رانـه اوبـه وغوښـتې ويلـې: بچيـه کـه تکليـف کېـږي نـه، يـو کټـوری اوبه خو راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته يو جام اوبه راوړې، هغه په يوه ساه اوبه وڅښلې. جام مې ترې ونيوه، ما وې کاکا جانه ستا نوم څه دی؟

ده ويل خاورې شمس الدين.

ښه کاکا کيسه کوه.

ويلې: خدای ښه مالداري او زمينداري راکړه. ورور ته مې داسې واده وکړ، چې دوه شپې او ورځې مجلسونه کېدل، خوښدې مې هم واده شوې، الله رابانديښې شپې ورځې راوستې. هغه لړ غلی شو، بيا يې وويل خو اوس.. ! زر زر يې سترګې ورپولې، په ډېره يې لاس تېر کړ، په دغه حالت يې زما شک پيدا شو، ما وې کاکا جانه ولې؟ اوس څنګه؟ هغه بيا خپل سر واړاوه راواړاوه، وې ويل بچيه ورک يې کړه، په اوس خبرو کې څه خوند نشته دی.

په دې وخت کې دوکاندار يوه پياله چای ورته راوړ، ما ورته د چايو پياله ورکړه، هن کاکا جانه دا چای وڅښه، خو اصلي کيسه به راته خامخا کوې.

هغه دوه درې ګوټه له پيالې نه وکړل، خپل څادر يې د کوناټې نه لاندې کړو، وې ويل:

په اوسنيو کيسو کې ټولې بدبختيګانې دي، ښه څه پکې نشته، په غېر له بدو پېښو نه. غوړ ونيسه اوس به درته يوازې خپله کيسه او د سترګو ليدلی حال ووايم.

زما درته غوږ دی کاکا جانه، کيسه کوه.

بچيه بلا دې واخلم رښتيا ده، چې د ظاهر شاه باچاهي ډېره ښه وه، ارامه ارامي وه، هر چا ښه هوسا ژوند درلود، دا خبرې نه وې، له داود خانی نه نيولې ان ترننه پورې يوه ورځ له بلې نه بدتره ده، جګړې دي، مرګونه دي، د کليو او ښارونو ورانول دي، دا څه بدحال دی. موږ خو له پلار نيکه نه مسلمانان يوو، په همغه پخواني اسلام باندې مو ښه ټينګه عقيده ده. اوس خو هرڅه بدل شول، د طالبانو په وخت کې خو بيخي بل ډول کارونه وشول، ډېره لنډه ده، ډېره اوږده کړه. د اسلام دين يې په ډېره پورې غوټه کړو. اخر يې داسې کانې وکړې، چې د افغانانو تاريخ او فرهنګ يې په سين لاهو کړو د ټولې دنيا پام يې ځانته راواړاوه، نتيجه يې دا شوه، چې امريکا او انګرېزان يې راوخوځول او زموږ ملک يې پرې ونيو. په دې وخت کې يې شاوخوا پام وکړ، وې ويل: له ډاره څه نشو ويلی، زړونه مو له سرو وينو نه ډک دي. اصلي خبرې ته راځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې میاشتې مخکې مور د بلخ په شولګره کې وو، حالات ورځ په ورځ رابانـدې خرابېدل. جګړه له یوې ورځې بلې ته شـه تود بدله. امریکایان او انګرېزان چې کله مزار شریف ته راورسېدل، په طالبانو یې سور اور راښکته کړ. شمالي ټولواله د دوستم ملېشې د امریکایي قواوو سره یوځای په طالبانو لاس پورې کړ، ښار یې لوټې لوټې کړو، ویل کېدل چې امریکایان بې پنجاه و دو د طالبانو په مرکزونو راغورزوي. دغه ظالم شی چې یې استعمال کړو، د طالبانو پېرمې وشلېدې. یره ته باور وکړه که دغه شی یې نه وای استعمال کړی، د طالبانو ماتې ګرانه وه. مرګونه او جنګونه کلیو ته راوغزېدل، د ګلیم جم او رباني ټوپک والا په کلیو راوختل، د پښتنو هر کلی به یې امریکایي فوځونو ته په ګوته کاوه، ورته ویلې به یې چې دا ټول طالبان دي. هغوی به هوایي بمونه پرې راغورزول، د کلیو بې ګناه خلک، ښځې، ماشومان او بوډاګان به یې قتل کړل. د پښتنو په کلیو کې څوک ژوندي نه دي پاتې.

یوه ورځ مې خپل آس زین کړو، د یوه خپلوان پوښتنې ته تلم. خپلوان څوک و، خو هغه زما زوم و. ډېر سخت ټپي شوی و، ما وی چې پوښتنه یې وکړم. په سره ډزه کې له کوره ووتلم، د هغه کور په بالاحصار کې و. کله چې زه هلته وروروسېدم، د بالاحصار په کلا سخته جګړه روانه وه. زه په چالاکۍ سره د زوم کور ته ورسېدم. د هغوی له کلا نه تور سرې راووتې، پام مې ورته کاوه ټولو ژړل. زه له آس نه کوز شوم، زر زر ورغلم. په دروازه کې مې لور مخې ته راغله، وارخطا له ژړا نه یې سترګې سرې اړولې وې، هغې سمدستي زما خواته رامنډه کړه او چیغې یې جوړې کړې، په غېږ کې مې ونیوله، ما وی څه خبره ده؟

ویل خبره له خبرې نه وتلې ده، بهادر خان یې نن ښخ کړ، بچې مې حېران پاتې شول. ما وې دا څه وای. په وارخطایي سره دننه کلا ته ننوتلو، کتل مې چې کلا کې څو تنه سړي او ښځې سره ناستې دي، یو ملا هم په هوجره کې ناست دی، څوک چې نوي راځي، هغه یو د قران مجید سورت وایي او دوعا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوجره کې کښېناستم، څوک تلل او څوک به راتلل. په کلا کې ګڼه ګوڼه زياته وه. يوه سپين ږيري په جګ اواز وويل: ورونو راځئ، چې اوس نورو شهيدانو ته ورشو. ټول خلک پاڅېدل، له يوه سړي نه مې پوښتنه وکړه، ما وې وروره نور هم څوک مړه دي؟ هغه ووې چې په بالاحصار کې او نورو کليو کې بې شمېره خلک بې وژلي دي. دننه په بالاحصار کې مړي پراته دي، لا جګړه روانه ده، امريکايي او انګليسي قواوو د طالبانو بېخ ويستلى دى. طالبان خوځه کوې، د کليو بې ګناه پښتانه يې ټول قتل کړل. دا خلک د کلي نورو مړو ته ورځي. ما وې وروره زه به هم درسره ولاړ شم. هغه وې ولې نه راځه، چې ځو. هغه رانه زر پوښتنه وکړه، ويلې: وروره ته د کوم ځاى يې؟ زه د شولګرې د لوى کلي يم. د اختر محمد د زوى بهادر خان پوښتنې ته راغلى وم، له بده مرغه چې په مړي يې راواوښتم. مونږ لا په خبرو کې وو، چې مخامخ په يوه کوځه ور روان وو.

تلو تلو وړاندې يو جومات مخې ته راغى. ډېر خلک پکې راټول شوي وو، چا اودسونه کول، څوک په لمانځه ولاړ وو. موږ هم زر زر اودسونه تازه کړل، جومات ته ورننوتلو. د ماسپښين جمعه ودرېده، په پاى کې ملا صاحب دوعا وکړه. ملا دا هم وويل: لاس پورته کړئ، چې الله تعالى له موږه دا شر پورته کړي. شهيدان دې خداى وبښي، هر څوک چې زموږه خاورې ته، زموږ خلکو ته په بدو سترګو ګوري، خداى دې پخپله خدايي سره واخلي. په اخر د دوعا کې ملا امام وويل: ورونو د شهيدانو ليدو ته به ټول ورشو، وخت کم دى، چې د ښخېدو وخت يې رارسېدلى دى. ملا مخکې شو او نور خلک ورپسې شول، د جومات ترڅنګه يوه کور کې درې تنه شهيدان شوي وو. لومړى د هغوى ليدو ته ورغلو، دوعا مو ورته وکړه. د بيا د کلي په يوه وړاندې کوځه کې شپږ تنه شهيدان شوي وو. د يو تن صورت روغ و، مګر نور پينځه تنه بيخي چنجېدلي وو. له پېژندګلوۍ نه وتلي وو. خلکو خپلو کې سره غلي غلي ويل: هغه نور مړي لا د دېنه هم زيات خراب شوي دي. ما له يوه نه پوښتنه وکړه: انډيواله نور مړي هم شوي دي؟

هغه راته په ډډه وکاته، ته لا نه يې خبر؟ ما وى نه نه وروره زه د بل ځاى نه راغلى يم. سړي راته د کلي کوز سر کوځې ته ګوته ونيوه، ويل: هغه لوړ چنار وينې؟ ما وې هو. د هغې چينار څنګ ته يوه ژوره سيمه کې يو کلى دى درويشت تنه پکې قتل شوي دي. ددغو مره مړو ښخېدل څومره ګران کار دى. بيا مې بله پوښتنه ونه کړه، پوه شومه چې پښتانه يې تباه کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلیو ټول مړي ان تر ماښامه د تورتم لګېدو پورې ښخ شول. زه ناوخته د لور کور ته وخوزېدم، تورتم لګېدلی و، چې د هغوی کلا ته ورسېدم. په دروازه کې څو تنه هلکان ولاړ وو، چې یو تن پکې زما لمسی و. هغه دننه ننوېستم. هوجره کې خبرې اورېدل کېدې. سر مې وردننه کړ، چې کتل مې خپلوان څو تنه سره ناست وو. ټول پخپل ځای ودرېدل، ما ورته د مړو د ښخېدو کیسه تېره کړه. هغوی وویل: مورږ هم دا دی اوس ترې راغلو. ښه شو ټول مړي خاورو ته وسپارل شول. اختر محمد چې د 65 کالو سړی و. هغه هم لږه شېبه پس راننوت. یو بل خپلوان ورته ډوډۍ راوړه. په هوجره کې ناست کسان ډوډۍ ته کښېناستل. له چای او ډوډۍ نه وروسته ځینې کسان کورونو ته ولاړل، یوازې اختر محمد او واړه یې پاتې شول. تر نیمې شپې پورې مې هغوی ته تسلي او ډاډ ورکاوه. شپه مې ورسره سبا کړه، سهار وختي مې آس زین کړو او له هغوی نه مې رخصت راواخیست او د کور په لور مې آس قمچین کړ.

ماښام تېر خپل کلي ته ورسېدم. څنګه چې د لوی لارې نه د کلي په لومړۍ کوڅه کې مې آس ورو کړ او په کوڅه باندې مخامخ روان شوم. لا یوه ټوټه مزل مې نه و کړی، چې وړاندې د کوڅې په منځ کې د خلکو ګڼه ګوڼه وه، تورتم و د ځینو کسانو سره لاټینونه و. د کوڅې بل اړخ ته روان و. په یوه سړي مې غږ وکړ: وروره ودرېږه، یوه پوښتنه درنه کوم.

هغه په ښه نیولی شو، ودرېد. زه خواته ورنږدې شوم. وروره څه خبره ده، په دغه کوڅه کې ډېر خلک روان دي؟.

ولې ته خبر نه یې؟

نه نه زه خبر نه یم، خیر خو دی؟ خیر چېرته دی، د ملک کاکا دوه زامن یې یې د شولګرې په دوکانونو کې وژلي دي.

له آسه کوز شوم، سمدستي مې زړه درزا پیل کړه.

وروره د کوم ملک، ددې کلي خو یو ملک دی نو !

ملک افسر خان نه پېژنې؟

دا څنګه؟ دا کله؟ په مغزو کې مې کړنګ وشو. هغه زما تره یادوې؟

راځه نورې خبرې پرېږده، خو سید اجان او میراجان یې نن ماسپښین دواړه وژلي دي، سبا ته یې ښخوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور نو په ځان پوه نه شوم، سمدستي مې ځان ور ورساوه. آس مې په ډېره کې وتاړه او زه د کلا دروازې ته ور روان شوم. دومره وارخطا وم، چې دوه ځلې د کلي دروازه کې راخطا شوم. پښې مې اړو پړ شوې، نږدې رالوېدلی وم. په دروازه کې ورننوتلم، د ښځو ژړا او ویرونه مې مې غوږ ته راورسېدل. د کلا په دالان کې خلک راجمع وو. پام چې مې وکړ، وړاندې برنډه کې دوه جنازې پرتې وې. ښځې ترې شاوخوا ناستې وې. ټولو زه ولیدم، چې ورروان وم. زما په لیدو د ژړا غړونه یو انګور جوړ شو. وارخطا وارخطا مې ځان ورورساوه.

د دواړو جنازو د شهیدانو د کټونو په بازوګانو مې لاسونه کېښودل او ورپرېوتم. بیا مې ځان ونه پېژانده، تر ډېره وخته پوره په کلا کې د ساندو او ویرونو چیغې پورته کېدلې. کاکا مې راغاړې وت، سلګو نیولی و. هر چا په زوره زوره ژړل. لږ لږ په ځان پوه شومه، د کټ بازو ته چا کښېنولم، زړه مې راټینګ کړو، اوښکې مې پاکې کړې، ایله دومره مې له خولې ووتل: دا څنګه چل شوی دی؟

کاکا مې په ژړغوني غږ وویل: بچیه دا یې ماسپښین د شولګرې په دوکانونو کې وژلي دي. د کلي نور کسان یې هم وژلي دي. په دې وخت کې له بیرون څخه یو تن راغی، داسې یې وویل: هدیرې ته یې مړي راوړي دي، خلک په هدیره کې راټول شوي دي، ناوخته دی دا مړي راواخلئ. خلک له دواړو جنازو نه تاو شول، ښځو او نرو د کور لوی وړو ویر جوړ کړو. جنازې پورته شوې، د کلا تر دروازې پورې ترڅو چې جنازې وتلې، ویرونو کلا لړزوله. په بیړه سره جنازې له کلا نه ووتلې. د کلا په دروازه کې ښځې او ماشومان ودرېدل. د سیداجان او میراجان مېرمنو خپل ویښتان شکول او چیغې یې وهلې، ترڅو چې دواړه جنازې یې له سترګو پناه شوې. جنازې په منډه منډه خلکو هدیرې ته ورسولې. د هدیرې په څنګ کې لوی میدان و، نورې جنازې هم پکې ایښې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای مخلوق راغونډ شوی و ، سپین ږیري، تور ږیري، واړه ځوانان ټول د شاوخوا کلیو نه راغلي وو. د هدیرې په وړاندې ګوټ کې ځای پر ځای تور سرې هم ښکارېدې. عمومي جنازه وشوه، یوه د سپینو جامو ملا د خلکو مخې ته ولاړ و ، وعظ یې کاوه. د وعظ په پای کې یې داسې وویل: ورونړو لاس پورته کړئ، الله ته سوال زارۍ وکړئ، ترڅو زموږ په وطن کې جګړه بنده شي. هر چا زموږه وطن وران کړو ، اخر امریکا راپسې راغله. زموږ په خوار اولس یې خپلې وسلې ازمېښت کړې. اوس پرې وار د امریکایانو او انګریزانو دی. کلي او ښارونه یې چې څه پاتې وو ، دوی په بمونو او راکټونو وویشتل. په دې لوټ شوي او تالا شوي ملک کې نور څه پاتې دي، چې دوی له موږه څه غواړي. خدایه څوک چې په موږه ظلم او ناروا کوي، له مخه یې تباه کړې. په دې وخت کې یوه تور ږیري سړي د ملا صاحب په غوږ کې یو څه وویل، ملا نورې خبرې د امریکا په باب ونه کړې، خوله یې ونیوله. یو حدیث یې تېر کړ ، نورې خبرې یې په نیولي غږ وکړې. د شهیدانو جنازه وشوه، خلکو مړي پورته کړل او هدیرې ته یې هر مړی خپل خپل قبر ته یووړ. مړي ښخېدل او د قبرونو په سر ملایانو په جګ اواز د خدای کلام آوراوه. هر ملا د زړه له اخلاصه مسئلې کولې. چا خاورې ده مولې او په قبر یې شیندلې. ځینو له ځانه سره پټ پټ د شونډو په سر کلیمې ویلې. چا د مړو د قبرونو له پاسه څادرې نیولې وې. د قبرونو ترڅنګه وړاندې د شهیدانو خپلوانې، تور سرې ښځې یو تر بله نژدې ناستې وې. د هرې ښځې پرمخ او ښکې روانې وې. د یوه قبر څنګ ته د ښځو د ډلې په منځ کې یوه ښځه نورو ښځو له لاسه نیولې وه، خو هغې ښځې چیغې او نارې وهلې. همدا یې ویل: خدایه په دوستم او امریکا تندر راوارتوې ! زما بچې یتیمان شول، الله کور مې وران شو ، خدایه ته خو د ظالمانو کور وران کړې. همدا یې ویل او ستونی یې بند شو ، اواز یې په تپه ناست و ، بې خودې پرې راغله. نورو ښځو په غېږ کې ونیوله او پرې راټولې شوې، هدیره کې بده ورځ جوړه وه، ژړا او چیغې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هديره کې د ټولو خلکو شونډې وچې وې، له خلو نه يې اسويلي بادېدل.

مړي ښخ شول، دوعا وشوه. وروسته بيا د هديرې په سپين ميدان کې خلک ودرېدل او اخري دوعا او فاتحه وشوه. خلک له هديرې نه هرې خواته روان شول. په ټولو کليو کې يو شان خپګان و، د شپې له خوا د بالاحصار په کلا توده جګړه روانه وه. ډېر طالبان د ننه په کلا کې بند پاتې وو او مقابله يې کوله. تسلمېدو ته يې غاړه نه ايښوده. له شمالي ټلوالې او امريکايانو سره په سخته جګړه اخته وو. له دواړو خواو نه مړي زخميان کېدل. ځينې مړي زخميان به کليو ته راچلېدل، په بالاحصار څو ورځې جګړه کېدله. امريکايي عسکر له بالاحصار نه راتاو شوي وو، د ټانکونو او هوايي الوتکو غړمبا ټول مزارشريف لړزاوه. سبا ته وختي په کليو کې احوال ولګېد، وويل شول چې بالاحصار يې ونيو، طالبان يې تسليم کړل او ويې وژل.

او دا هم ويل کېدل، چې د طالبانو سره پاکستاني جنګيالي هم وو. مازديګر لمر په غړغړه و، يو زخمي يې په آس اچولی کلي ته راوړ. د زخمي په خوله کې ايله ښېله ساه وه، نور ختم و. يو زلمی چې د دغې کلي دا زخمي چې بې راوړ، خلک ترې راتاو شول او پوښتنه يې ترې کوله. لو مړی هغه هېڅ نه ويل، خو چې د کلي خلکو ډېر ټينګ کړ، پخپلو وچو شونډو يې ژبه وګرځوله. سترګې يې راووېستلې، داسې يې وويل:

وروره د ځانونو غم کوئ، والله که مو ژوندي پرېږدي. د امريکايانو سره يوځای دوستميان او ټلواله يوځای په طالبانو پسې ګرځي، چې نوم پښتون مخې ته ورځي، ژوندی يې نه پرېږدي.

زمونږ خوا ته ښه رانژدې شو، په کراره يې مونږ ته داسې وويل:

فکر مو اوسه په دې وخت کې يوځای ډله ډله مه درېږئ، همدا نن غرمه زه خبر شوم، چې له کليو نه پښتانه په يوه بهانه او بله بهانه بيايي، پام کوئ فکر مو اوسه. ښه به دا وي، چې پخپلو کورونو کې ونه اوسېږئ، ځانونه غېب کړئ.

د سړي په خبره مونږ د جومات چنې ته ولاړ کسان حېران پاتې شوو. خپلو کې مو سره وويل: درځئ چې اوس کورونو ته لاړ شو. سبا ته به په حالاتو ځانونه پوهوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه د کلیو خلکو باندې په وېره او ډار تېره شوه. سهار شو، ما ځان لړ وختي د جومات مخې ته ورساوه. کتل مې چې په وستل کې درې څلور تنه کلیوال ناست دي سره غړېږي. زه د هغوی خوا ته نږدې ورغلم، سلام مې واچاوه ورسره کېښېناستم. هغوی د حالاتو په باب سره خبرې اترې کولې. وړاندې په کڅ کې په نرۍ لاره یو سړی په آس سور راروان دی. موږ ټول د هغه په تماشه شوو. موږ پوهېدو چې دغه سړی خامخا د کلي دی، کوم نوی احوال به یې راوړی وي. موږ لا په دې سوچ کې وو چې هغه زموږ نه وړاندې د کلي په لویه دروازه راننوت. د وستل ترمخه په لاره راروان و. کله چې موږ ته راورسېد، له آس نه کوز شو. موږ ټولو هغه وپېژانده چې هغه د کلي یو سړی و، زوی یې په بالاحصار کې له طالبانو سره عسکر و. هغه خپل آس ودراوه او زموږ خوا ته راغی. سلام یې واچاوه، موږ ورته ستړي مشي وویلې. زموږ له ډلې نه یو تن ډېر بې واره و. دستي یې ترې د هغه د زوی پوښتنه وکړه. ویلې لومړی دا ووایه چې زوی دې ژوندی دی که نه؟

هغه چې رنګ یې زېړ آلوتی و، شونډې یې وچې وې، خپله ژبه یې په وچو شونډو وګرځوله، ویلې نه؟ ډېرې پوښتنې مې له یو بل نه وکړې، مګر هېڅ را ته څه معلومات رانکړل. بېګا مازدیګر ټول بالاحصار تسلیم شوی دی، کومو کسانو چې مقاومت کاوه، هغوی یې نیولي دي، زیات پکې مړه دي.

ما وی وروره ته خو پوره کیسه وکړه، څنګه چل شوی دی؟

هغه د بالاحصار پلو مخ واړاوه، ویې ویل: وروره د محشر ورځ تېره شوې ده. پرون په بالاحصار الوتکو بمباری کولې او لاندې توپونو او ټانکونو په بالاحصار اور بل کړی و. د ماسپښین نه وروسته جګړه ودرېده. په بالاحصار د دوستم او رباني دوی عسکر وروختل. خارجي قواوې هم د بالاحصار په شاوخوا کې وې. دومره مخلوق مړ شوي دي، چې په زرګونو طالبان وژل شوي دي. حېران دې ته یم چې په مړو به څه کوي، ځکه چې هغه خو د ښخولو نه دي او نه څوک شته دی، چې دومره قبرونه اوباسي، خو خلکو سره خپلو کې ویلې چې مړي په بیلدوزرو ښخوي. کندې ورته اوباسي او مړي ورته ورګوزاروي. ډله ییزو قبروو کې یې وراچوي، ژوندي چې څوک پاتې دي، هغوی زندان ته بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولو کليو کې پښتانه رانيسي او له کوره يې باسي، له ځان سره يې بيايي. دومره خلک يې نيولي دي، چې د پېنځه شپږ زرو نه خامخا زيات دي. دا خو ټول طالبان نه دي، خو چېرته چې يې پښتانه پيدا کړي دي، نيولي يې دي. زه په همدې خاطر نن دلته راغلی يم، چې دا پاتې پښتانه خبر کړم، چې د ځان غم وخوري، که نه نو خبره خرابه ده، هو خرابه ده !.

دوعا وشوه، له جومات نه خلک خواره شول او خپلو کورونو ته لاړل. زه هم خپل کور ته راغلم. د ماښام له ډوډۍ نه وروسته په دې شپه تر ډېره کښېناستم. ماشومان او مېرمن مې ويده شول، زه هم پخپل کټ کې پرېوتم. ما لا ډېره نه وه لګولې چې د کلي سپو غپا جوړه کړه. غوږ مې چې ونيوه، د کلي په هره کوڅه کې د سپو غپا زياتېده. زه له کټه راجګ شوم او د کور برنډې ته راووتم. د کلي شاوخوا ته مې پام وکړ، سپو همغه شان غپلې. د کلي د کڅ سرته په سړک کې موټرې د کلي په لور راروانې وې. سړک زموږ د کلي ترځنګه تېر شوی و، ما ښه ورته ځان ځير کړ. ما وې چې دا به د دوستم دوی عسکر وي، چېرته به ځي. د موټرو ځراغونه به کله ګل شول او کله به ولګېدل. سړک خو بې له هغې کندې کندې و، ما فکر کاوه، چې دا موټرې په لوړو ژورو کې خېږي او کوزېږي، ځکه يې سترګې نه معلومېږي. خو هغه د دوی خپل مانور و. ما هېڅ فکر نه کاوه، چې ګنې دوی به کلي ته راځي او خلک به له کورونو نه وباسي. موټرې راروانې وې او سپو هم ډېر غپل.

زه لاړم بېرته مې ډېره واچوله، نسوار مې لا خوله کې دي، ښه پوره وخت په سوچ کې لاړم. يوه شېبه وروسته مې شور او غرپا تر غوږ شوه. بيا مې سر له کړکۍ رابهر کړ، لاندې کوڅه کې هرې دروازې ته وسله وال سړي ولاړ دي، د کلي منځ ته مې چې سترګې واړولې، شور او غالمغال دی. د مازديګر د بوډا سپينږيري خبره مې ښه زړه ته ودرېده. تر مازديګر ناوخته د جومات په شاوخوا کې د کلي خلک خپلو کې سره جرګه جرګه کېدل، همدا بې ويل چې څه چاره ولټوو. اوس خو خبره زموږ سرته راغلې ده. ښځې او کورونه خو نشو پرښودلی. هرڅه چې رابانديې کېږي، کېږي به ! مرګ مو قبول دی، خو دا شرم نشو قبلولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاريخ کې به مو بچو ته پېغور پاتې شي. تر ناوخته همدا فيصله وشوه، چې په همدې خپل کلي کور کې به ناست يو مرګ وي او که درد ، همدلته به يې تېروو. هلته وړاندې د جومات په برنډه يو زوړ بوډا سپين ږيری ناست و ، خپلې تسبيې يې اړولې. خلکو ته يې مخ راواړاوه ، ويې ويل: هلکانو پام کوئ دا ترکمن او ازبکان مو نه پرېږدي ، موقع ورته په لاس ورغلې ده ، په هر سبب چې وي دا ځل پښتانه بې مرګه نه پرېږدي. تاسې خپل اتفاق او بيا لارې ګودري ګورئ. اګرچې پښتانه بې اتفاقه قوم دی ، دا ټولې ناودې يې پخپله په ځان راوستي دي ، که دوی لږ په اتفاق وای ، مشر او کشر يې معلوم وای ، د بل په د سيسو نه غولېدای ، داسې حالت به پرې ولې راتلای ؟

اوس پخپلو کې سره يو شئ ، يوه خبره غوټه کړئ او بيا پرې عمل وکړئ که نه نو دا ځل بيخي دل کېږئ. د بوډا خبره چې خلاصېده ، ملا د ماښام اذان وکړ. خلک په جمعه ودرېدل ، د لمانځه په پای کې ملا امام دوعا وکړه او د دوعا په اخر کې يې وويل: وروڼو لاس پورته کړئ ، چې الله پاک سوله راولي ، زموږ د مسلمانانو خو ددې زورور ظالم سره زور نه رسېږي ، خدای دې پخپله خدايي سره مسلمانانو ته برې ورکړي. دا ځل پښتانه بې مرګه نه پرېږدي.

زه له په دې فکر او سوچ کې وم ، چې د کلا دروازه وټکول شوه. مېرمن مې راجګه شوه ، ويلې سرېږه پاڅه دروازه ټکېږي. زه له کټ نه پاڅېدم ، ښځې ته مې وويل: تاسې مه وارخطا کېږئ ، کېدای شي د کلي څوک وي او ماسره يې څه کار وي. زه راښکته شوم و شاته مې مېرمن هم راپسګې جوخته راروانه وه. د کلا دروازه مې خلاصه کړه ، کتل مې چې شپږ تنه ټوپک والا ولاړ دي. مېرمن مې چې دوی وليدل ، په چيغو يې لاس پورې کړ. دغسې چيغې د کلي په هر کور او کوڅه کې اورېدل کېدې ، سړو وويل: خوارجان ګريه نه کن ، شوهرت زود پس می آيد !.

ما يوازې خپلې ښځې ته همدومره وويل: دروازه کلکه کړه ، زه بېرته راځم ! زه دوی له ځان سره روان کړم. دوی راته يوازې دا وويل ، چې د کلي ټول خلک يې غوښتي دي ، په زړه کې دې بل څه تېر نشي. ماته د بوډا خبره بيا نېغه مخې ته ودرېده. روان يې کړم ، د کلي د هرې کوڅې نه يې خلک راوېستلي وو او د سړک په خوا روان وو. موږ هم سړک ته ورسېدو. په سړک ډېرې موټرې ولاړې وې ، د کلي ټول خلک يې سړک ته راوستل ، يوازې د وسله والو نه يو چا غږ وکړ ، وې ويل: "برادران شما را قوماندان صاحب خواسته چيزی ګپ ميزند ، ديګر هيچ ګپ نيست ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور یې هیڅ ونه ویل. د کلي ټول خلک یې په موټرو کې کښېنول او د مزارشریف بالاحصار په لور یې حرکت وکړ.

موټرې څو څه عسکري وې او څه چکلې لارۍ وې. ټول کلی په ژړا او چیغو پاتې شو، سپو هماغسې شان غپلې چې موټرو حرکت وکړ. په هر موټر کې وسله وال د کلي د خلکو سره کښېناستل، د بالاحصار په لوري موټرو حرکت پیل کړ.

زه یې هم یو موټر ته وخېژولم، په هر موټر کې د کلي خلکو یو تر بله سره پېژندل. زموږ سره په موټر کې هم ټول بلدي کسان ناست وو، توره شپه وه، تورتم کې یو بل سره نه لیدل، مګر یو بل سره به چې خبرې وکړې، په موټر کې ناستو کسانو به هغوی او چت وپېژندل. لږه شېبه چې موټرو لار ووهله، خلک زموږ په موټر کې غلي ناست وو. ناڅاپه د موټر له یوه ځاي یوه تن داسې وویل: د طالبانو دې خدای کور وران کړي، د هېچا یې نه منله، ټول پښتانه یې پرې قتل کړل. خپله خو قرانګو که به د اسلام او پښتونوالي نښه ورکې وه، خوشې ټولې دنیا ته یې پښتون سپک سپاند کړ. ګورئ په دا نیمه شپه ټول کلی یې له خلکو خالي کړ. ای ورونو په دې ښه پوه شئ، چې موږ او تاسې مرګ ته بیایي.

په موټر کې ناست کسان ټول پوه شول، چې دا خو د کلي (میراب) صاحب دین اکا دی. په دې وخت کې یو تن ټوپک والا پرې ګراغوټه شو، په کونداغ یې وواهه. صاحب دین اکا یو اخ وکړ. په موټر کې ناستو کسانو ټولو په یو اواز ټوپک والا ته ویل: مه چې د کلي میراب ونه وهې، دی خو طالبان یادوي، تاسې یې خونه یاست یاد کړي. دا خو د ټول کلي خدمتګار غریب سړی دی، ولې دې په کونداغ وواهه، دومره د پښتنو ټکولو ته تږي یاست؟

ټوپک والا په قهر او غضب وویل: ګپ نزن، شما طالبای بی فرهنګ وحشی!

ټولو په موټر کې ناستو کسانو ورته وویل: خوله دې سمه خوزوه، ردې بدې مه وایه!. یو تن کلیوال وویل: ورونو ده سره ځان مه سموئ، پرېږدئ چې چېرې مو وړي، نورې خبرې به هلته د دوی مشرانو سره وکړو. هغه بیا وویل: "والله اګر به ګپ زدن ات بماند".

د هغه له دغې خبرې سره ټول چوپ او غلي کښېناستل. موټر روان و، ډېره لاره یې ووهله. ترڅو چې د مزارشریف بالاحصار ته ورورسېدو. موټرې ودرېدې، شپه هم په وتو وه، چرګانو اذانونه کول، چې مونږ د بالاحصار دروازې ته مخامخ په سړک ودرېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه شېبه په موټرو کې ناست وو، له موټره مې چګې پام کاوه، د بالاحصار مخې او شاوخوا دومره ډېرې موټرې او خلک لیدل کېدل، چې هېڅ په شمېر کې نشوای راتلای. یو تن زموږ موټر ته نزدې راغی، د موټر سیټ کې یې کوم یوه سره څه وویل او بېرته لاړ. لږه شېبه وروسته وسله وال د سړک دواړو غاړو ته ودرېدل، د بالاحصار د کلا دروازې پورې پر سړک ټوپک په لاس عسکر ولاړ وو. شپه ووته، رڼایي ولګېده، هرڅه لیدل کېدل. ټانکونه او توپونه ځای پرځای ولاړ وو، وړاندې امریکایي عسکر ښکاره ترسترګو کېدل، له درېشۍ او وسلو نه اوچت پېژندل کېدل. زما زړه کې دا تېرېدل، چې امریکایان خو شته دی، په موږ به څوک ظلم نه کوي. له موټره راښکته شو، په سړک یې مخامخ د بالاحصار د کلا دروازې ته روان کړو. زموږ د کلي خلک یې ټول په سړک روان کړل. کتل مې چې د بالاحصار د کلا په دروازه خلک ورننوتل. کله چې موږ دروازې ته ورنږدې شو، څو تنه خارجي کسان او د دوستم او رباني یوه ډله قوماندانان او مهم کسان ولاړ وو. دروازه کې وسله وال کسان په داسې حال کې و، چې چا په دروازه کې د ننوتلو په وخت کې خلک شمېرل د یوه تن سره قلم او کاغذ په لاس کې و. ځینو وسلې تیارې نیولې وې، له دروازې به دوه دوه تنه دننه ورننوتل.هغوی به زر زر شمېرل. زه چې دروازې ته ورورسېدم، دویم تن راسره زموږ د کلي یو خیاط (کالي ګنډونکی) ملګری شو. هغه د ننوتلو په وخت کې ماته وکتل او ما هغه ته. له دروازې تېر شو. دننه لاړو، چې پام مو وکړ، دننه د بالاحصار کلا خو پخوانۍ عسکري کلا ده، چې بې شانه لویه ده، په زرګونو خلک پکې ځاېږي. دننه پکې ودانۍ ډېره ده، موږه چې لږ وړاندې ورتېر شو، ټوپک والا ودرولو. شاته مې چې پام کاوه، زموږ د کلي خلک ټول ولاړ وو. پنځوس متره وړاندې د کلا دیواله ته څیرمه بې شمېره ډېر خلک ناست وو، څو تنه وسله وال ورته ولاړ وو. مخامخ د یوې لویې ودانۍ په غټو کوټو کې د خدای مخلوق ناست وو. همدا شان په دواړو چپ او ښي پلو څو متره وړاندې کوټو کې یې طالبان اچولي وو. ما چې په کلا کې دننه دا د خدای مخلوق ولید او ټول حالات مې له نظره تېر کړل، پوه شوم چې دا دومره ډېر خلک یې تش د طالبانو په نوم راوستلي دي.

موږه سره په کلا کې دننه سمدستي بل ډول چلند کېده، نه مو چا خبرو ته غوږ ایښوده او نه یې راته د انسانیت په سترګه کتل. لمر راوخوت، موږ لا همغسې ولاړ وو. ځینې کسان چې بې وسه وو او یا سپین ږیري و، هغوی ځای پرځا ېناست وو. په دې کې دوه وسله وال راغلل او داسې یې وویل: اوغانا بشیند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور پخپلو ځایونو کښېناستو. د ورځې تر دولسو بجو پورې ځای پر ځای ناست وو. او به او ډوډۍ یې نه راکوله. ما چې د کلا د ټولو راوستلو خلکو او طالبانو په ګډون اټکل وکړو، تقریباً شپږ زره کسان به وو. د ورځې له دولسو بجو نه وروسته یې او به راوړې. هر چا او به وڅښلې، خو همدا به یې ویلې: د خپلځایه مه ښوربږئ. هر څوک باید پخپل ځای کښېني، بله خبره نشته دی، همدا نن تاسې د مزار ښار ته بیایي. هلته کومه عمومي غونډه ده، د خبرو اترو لپاره غونډه جوړه شوې ده.

یوه تن په ناستو کسانو کې ورنارې کړې: وروره بې له هغې مو وژنئ، دومره خو وکړئ، چې لږ خواړه او او به خو راته راوړئ، له لوږې او تندې مو ولې وژنئ. وسله وال چې اصلاً ازبک ښکاریده، خیرن لنګوټۍ یې له سره تاو کړې وه، د نسواري بخمل اوږد کمیس یې په تن و، لنډ پرتوګ او زاړه عسکري بوټان یې په پښو و، چیته پوزه او شنې بخنې سترګې یې وې، لنډکۍ ږیره یې وه. د ډېرشو کالو به و، له نورو نه دی لږ د انصاف خاوند و. ویلې: برادرا از انجا از چاه در سطل آب بیارید، مګر درینجا نان مان نیست.

دوه تنه ګرندي پاڅېدل او به پسې ولاړل. د هر چا خوله وچه وه، څکه چې ډېرو خو نسوار اچول او ډېرته یې توکول. د کلي خلک له خپلو ځایونو نه راوخوځېدل. یوازې خو زمونږ د کلي خلک نه وو، په دې کلا کې یې د ډېرو کلیو خلک راټول کړي وو. طالبان هم پکې وو، مخکې چې څه طالبان په دې کلا کې اوسېدل، هغوی څه وژل شوي وو، څه زخمیان او ځینې یې ژوندي په کلا کې رابند کړي وو. د کلیو خلک یې چې ټول پښتانه وو، نه طالبان، ولې د طالبانو په نوم یې راوستي وو او په کلا کې یې اچولي وو. امریکایانو ته یې ویلي وو، چې دا ټول طالبان دي او القاعده دي.

زه ټینګ نشوم، له خپلو کلیوالو نه وړاندې لاړم. د بالاحصار د کلا د ننه نورې ودانۍ دوه پوړه او درې پوړه جنګي برجونه بې درلودل. په کوټو کې او هم د باندې مچ میږې خلک خوزېدل. دا خلک ټول یا طالبان او یا د کلیو خلک یې راوستلي و. هر چا ته مې غوږ ونیوه، چې څه وایي. چا به ویلې ساعت پس به جرګه جوړېږي، مونږ ټول به پکې ګډون کوو. دا خبره به زیاتره د کلیو د خلکو له خولي ګراوتله. ځینو به ویل په عمري بند مو بندیان کوي او چا به ویلې په قران که به نور ترې د ژوند څکه وکړئ. طالبانو خو هسې ګلونه نه دي کرلي، چې ګنې مونږ به روغ پرېږدي. کاشکې د پښتو او پښتنو لپاره یې خو څه کړي وای. ځینې مې ولیدل هېڅ یې نه ویل. تور مخي ږیرې یې رسېدلې څه چې له نامه نه هم تېرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوچت ښکاربېدل، چې پنجابيان دي. پخپلو کې به يې سره غلي غلي خبرې کولې، له لوړې او تندې نه بيخي "پړي" شوي وو.

ما چې د بالاحصار د خلکو حال احوال واخيست، پوه شومه چې نه کومه جرګه شته او نه دي خلکو سره انساني چلند کېږي. دا ټول به بندي کوي او يا به يې وژني. په دغه کلا کې دوه ورځې مخکې د طالبانو او شمالي ټلوالي ترمنځ سخته جګړه شوې وه، چې په پای کې امريکايي الوتکو پرې بمباري کړې وه. طالبان يې څه وژلي وو او ځينې يې ژوندي تسليم کړي وو.

يو تن طالب مې وليد، چې د يوه ديواله ترڅنګه ناست و، په لاس کې يې خدازده د څو ورځو وچه يوه مړه ډوډۍ نيولې وه، په يوه ډډه ناست و، يوه پښه يې زخمي شوې وه، په ټوټه يې تړلې وه، خو وينې ترې راوتلې وې. دی لګيا و په وچه ډوډۍ يې شخوند واهه. خواته يې د اوبو خاورينه کوزه ايښې وه، په وچه مړۍ پسې به يې د اوبو ګوټ کاوه. زه د هغه په لور ورروان شوم، هغه کوزه په سر پورته کړه، اوبه يې وڅښلې. ماته يې راوکاته، سترګې يې چخنې، زيړ زبېښلې رنګ خيرنې جامې، د مخ هډوکي يې له ورايه ښېغ راختلي وو. کوزه يې پر ځمکه کېښوده، زه خواته وررسېدم. زما خو جامې پاکې او ظاهري بڼه مې لا تازه وه. هغه راته متوجې شو، خپلې سترګې يې راښخې کړې، ما سلام ورواچاوه، هغه وعليکم ووايه. خواته يې کېښناستم، هغه راته همغسې په ځير ځير کتل. ما وی وروره اجازه ده، چې خوا ته دې کېښېنم؟. هغه وی ولې نه کېښېنه وروره ! زما تلوسه وه ما وی چې د پښې د زخم پوښتنه ترې وکړم. په کرار مې ترې وپوښتل: وروره زخمي شوی يې؟ هغه وی: هو دا پښه مې لګېدلې ده. ما وی ماته خو نه ده؟ هغه خپل اوښکې لړ. کوږ غوندې کړو، لاندې يې خپلې پښې ته وروکتل ويلې وروره پښه مې له زنګانه نه کوزه ماته ده.

دا څنګه ولې ماته شوه؟

همدلته پاس په هغه برج کې ناست وم، نور ملګري مې هم راسره وو، هغوی راته شهيدان شول او زه په دې پښه ولګېدم. کاشکې زه هم مړ وای، شهادت به مې پر نصيب شوی وای، له دې حال نه به خلاص وم.

دلته تاسې څو تنه وئ؟

موږ پر دې کلا کې بالا له دوه زرو نه زيات طالبان اوسېدلو. ده له دې خبرې سره جوخت وويل: وروره ته هم طالب يې که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وی نه وروره زه یې د خپل کلي خلکو سره دلته راوستلی یم. بېګاه یې نیمه شپه راوستلو او په دې کلا یې راننو یستلو.

ده وی هو نو اوس پښتانه کله پرېږدي. د هغه رنګ کې لږه سورخي پیدا شوه، خپله پښه یې په یوه لاس ونیوه، له خپله ځایه لږ وخوځېده، ویې ویل: ارمان دی چې له دا طیارو او بې پنجاو دو سره نه کېږي، موږ خو خپل وس وچلاوه، خو نه وشوه ! بالا نو نور نه یم خبر چې په ګرد افغانستان کې به څه حال وي؟ موږ خو نو دلته اوبایلوده.

وروركیه ښه نو دا دومره طالبان چې په دې کلا کې وو ، هغوی څه شول؟

ټول څه مړه او څه یې ژوندي اسیران کړل. مړي یې په موټرو کې وو ېستل، خبر نه یم چې چېرې به یې وړي وي. دومره مې لیدل، چې موټران به یې ځینې ډکول او له بالاحصاره به وتل. دلته خو خالي په شمار څو تنه زخمیان او یو څو کسان روغ پاتې یو. دا کلا خو داسې ډکه نه وه، دا نور طالبان یې په دا دوو ورځو کې سره راوستل. وروره په دا دوو ورځو کې بل شان حال دی. په زرګونو طالبان بې چاره ګان یې له دې کلا د بالاحصار نه یوو ړل. نور هم ورپسې راولي او دوباره یې بېرته په دا لویو کانتینرو کې چېرې وړي. پرې خبر نه یم، چې څه به پرې کوي؟

هغه درد ونیو او ښي لاس یې په خپله پښه کېښود او ښکته یې ورته وروکتل. په دې وخت کې یو تن زموږ کلیوال په ما پسې راغی، ویلې راځه چې خلک دې غواړي. له زخمي طالبه مې اجازت راواخیست او خپلو کلیوالو ته خواته راغلم.

یوه راته سمد ستي وویل: انډیواله راځه لیرې لیرې مه ګرځئ، اوازه ده چې کوم امریکایي هیئت راځي، څه خبرې لري. یوه بل د کلي مشر سپین ږیري وویل: ربښتیا ده زموږ د کلي ټول ورونه باید په همدې ځای کې سره راټول یوو، چې له نږدې نه ورسره خبري وکړو، چې زر مو رخصت کړي، ټول کلي یوازې ښځو ته پاتې دی، ښځې او ماشومان به څه وکړي؟. په دې وخت کې یوه بل کلیوال پرې غږ وکړ، ویلې: کاکا همدا ته به ورسره خبرې زموږ د ټولو په نمایندګۍ وکړې. د کلي نایي اکا خاورین نږېدلي دیواله ته تکیه وهلې وه، پرت لاړي او نسوار بې له خولې تېر وارتول، همغه سپین ږیري اکا ته یې وویل: پردل اکا نور موږ د لوږې نه مرو، هر څوک چې راغلل او خبرې دې ورسره کولې، لنډې لنډې خبرې ورسره وکړه، چې له دې عذاب نه خلاص شو. یوه بل زلمي وویل: موږ خو نه طالبان یو او نه د هغوی ملګري، مونږ خو یې په خدای قسم دی په دې راوستي یو، چې پښتانه یوو !

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ څوک او طالبان څوک ! پخپلو خبرو کې احساسات شو. سترګې یې سرې واوښتې، موږ امریکایان څه پېژني، خو همدوی مو ورته ورښایي. موږ تل له خپلې لمنې نه اور اخیستی دی، موږ نه خارجیان څه خبر دي. لږ شان غلي شو. بیا یې وویل اوس نو هېڅ نشو کولای، هرڅه چې کېږي، هغه به کېږي. نور پخپل ځای غلي پاتې شو. ما زدیګر رانږدې شو، څوک را معلوم نشول. ما خپلو کلیوالو ته وویل: که ستاسې اجازه وي، زه به له هغه دروازې سره چې ولاړ ټوپک والا دی، پوښتنه وکړم، ګوندې څه معلومات خو به راکړي.

ټولو راته ووې: ورشه ولې نه یو څه خو به درته ووایي. زه په منډه له دوی نه روان شوم او د کلا دروازې په لوري وخوځېدم. زه ورو شان پښه نیولی شوم. کتل مې چې دوه تنو بیرون په سرک مخامخ د کانتینرو کتار ته اشاره کوله. مخامخ دروازې ته د کانتینرونو کاروان ورو ورو راروان و. ما ورپسې سر ونه ګراوه، خپلو کلیوالو خواته راروان شوم. لا خپل ځای ته نه وم رسېدلی، چې څو تنه طالبان وړاندې د کوټې دیوال ته سره ولاړ وو. په زوره زوره یې چیغې کړې، ویلې ای مسلمانانو ورونو، ګورئ چې د هر یانو بیا کانتینرې راوستې، دا درې ورځې سر په سر دوی طالبان او نور د کلیو بې چاره پښتانه مسلمانان په کانتینرو کې اچوي او چلوي یې. خدای خبر، چې چېرې یې وړي. دا دی ورته ګورئ په موږ او تاسو پسې دا کانتینرې راوستې دي. د طالبانو په دغه خبرو ټول خلک لږ وارخطا غوندې شول. لا لږه شېبه وتې نه وه، چې دروازې ته نږدې د دروازې خولې ته لومړنی کانتینر ودرېد. یوه ډله وسله وال کسان، چې له بڼې او جامو نه ښکارېدل، چې ازبکو ترکمن، هزاره او نور تاجکان وو، مشران یې مخکې او نور ورپسې له دروازې نه دننه راننوتل. ما چې له خپلو سترګو او نظر نه تېر کړل، تقریباً د شلو تنو په شمېر کې راتلل. د کلا دننه ولاړل، وړاندې په کوټو کې طالبان پراته و، ما دا خیال کاوه، چې ګنې څو سوه کسان طالبان به په کلا کې وي. خو کله چې یې هغوی له کوټو نه راوویستل او دروازې په لور یې راروان کړل، د کلا په منځ کې د دوو موټرو په اندازه سړک تېر شوی و، پېنځه پېنځه تنه کتار یې طالبان په دغه سړک ودرول. دا سې کسان هم پکې وو، چې د مرګ تر سلګۍ رسېدلي و، له چانه وینې روانې وې، چا فریادونه کول. د ټولو رنګونه زېړ زعفران ښکارېدل، وچې شونډې، خیرنې جامې، د هر یوه بدن لکه وچ لرګی داسې شوی و، چې هر څومره کلک زړه وای، د هغو پر دغه حالت اوبه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د کلي خلک دروازې ته د پېنځو سوو مترو په وړاندې په لویو لویو کوټو کې سره ناست وو. په دغه وخت کې دوه تنه ټوپک والا زموږه د کوټو دروازو کې ودرېدل. ویلې بیرون مه اوځئ اجازت نشته دی. موږ له کړکیو نه د طالبانو کتارونه لیدل، چې د کلا منځ سړک کې یې په کرار سره دروازې خواته روان وو. د عقل نه وتلی کار و، ځکه دومره ډېره یې له کوټو نه رابهر کړل، چې تعداد یې اټکلاً زرګونو تنو ته رسېده. دوه ورځې مخکې یې هم په زرګونو نور له همدې کلا نه وړي وو. زموږ د کلي خلکو چې په کړکیو کې یې ورته کتل، حېران او هک پک پاتې وو. یو بل ته سره ویل: ای دا به چېرته بیایي؟ بل به پسې بل ته ویل: طالبانو هم په کوټو کې ناستو کسانو ته ورکتل. دوی پوهېدل، چې موږ هرومرو مرګ یا زندان ته بیای. خو نتیجه هېچا ته نه وه معلومه. ما د کلا لویې دروازې ته دوه سترګې ځلور کړې وې، ما وی چې دا دومره مخلوق باندې به اوس څه کوي؟ د کتار سرته څو تنه نور غټان او د ټلوالې مشران راورسېدل. خارجیان هم پکې وو. په دروازه کې ودرېدل، د طالبانو لومړنی سر آن دروازې ته رسېدلي وو. په دې کې دروازه خلاصه شوه، طالبان یې کانتینر ته ورپورته کول. لومړنی کانتینر چې ډک شو دروازه یې ورپسې شاته بنده کړه، او ښي لور ته یې حرکت وکړو، وړاندې ودرېد. ورپسې بل رامخې ته شو، هغه هم د سترګې په رپ کې ډک شو او د لومړني کانتینر تر شا ودرېد. په دغه ترتیب سره ښه مې شمارل (27) کانتینره ډک شول او بیا د کانتینرانو کتار ښي لور ته په حرکت پیل وکړ. دروازه بېرته دوباره پورې شوه. د طالبانو کتار چې د کلا منځ سړک یې په خپلو لیکو ډک کړی و، لا نیمایي ته نه و رسېدلی. مازدیګر نږدې و، زموږ یوه کلیوال په دروازه کې ولاړ وسله وال ته وویل: وروره د لمانځه وخت دی، موږ ته اجازه وکړه، چې اودسونه وکړو. هغه وویل: ماته دا اجازه نشته، قوماندان صاحب چې راغی، له هغه نه اجازه واخلئ. هر څومره زاری یې چې ورته وکړې، هغه کله منله. په کوټه کې خلکو تیمم وواهه او د مازدیګر په لمانځه ودرېدل. د مازدیګر لمانځه نه وروسته کتل مو چې د کانتینرو کتار بیا راغی. بیا یې هر کانتینر تر خولې پورې له طالبانو نه ډک کړ او روان شو. موږ هم ورسره عادي شو. دربیم ځل وروستنی کتار چې راغی، له پاتې طالبانو نه ډک شو او لاړ. ماښام نږدې و، یوه ملا اذان وکړ او په کلا کې پاتې خلک په جمعه ودرېدل. د څو کلیو خلک لا د بالاحصار په کلا کې پاتې وو. د ماښام له لمانځه نه وروسته خړنی لګېدلې وه، چې بیا د کانتینرو کتار راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه خلاصه شوه، څو تنه ټوپک والا راننوتل، څو تنه یې زموږ خواته راغلل او څو یې د نورو کلیو خلکو پسې چې وړاندې په کوټو کې ناست وو، ورغلل. لومړی یې هغوی راوویستل او د همغه شان مخکینیي کتارونو غونډې ې په سړک ودرول. بیا یې موږ وړپسې له کوټو نه بهر کړو او په هغوی پسې یې ودرولو. له وسله والو نه یوه په جګ اواز وویل: برادران شما را به فرقهء مزار میبریم. نوري څه ونه ویل. د کانتینرونو خواته مخامخ یې روان کړو. له دروازې بهر د لومړي کانتینر خوله خلاصه وه، خلک یې ورخېژول. په دې وخت کې یوه سړي په زوره په جګ غږ وویل: د خدای لپاره موږ خو میږي او یا نور حیوانات نه یو، چې په دې کانتینرو کې مو وړئ؟ ولې مو وړئ؟ چېرې مو وړئ؟ یوه قوماندان پرې ورغږ کړ: ګپ نزن وحشي، بالا شو! نور نو د هر چا په مری کې لاړې وچې شوې، هر سړی له غږه ووت، خالي د خپل سرنوشت په انتظار و.

نوبت زموږ د کلي د خلکو راورسېد، هوا توده وه، د ماښام په خړه کې یې موږ کانتینر ته ورواچولو. دوه درې کانتینره ځانله زمونږ په کلیوالو ډک شول. زمونږ په کانتینر کې د پښو د ایښودو ځای نه و. کانتینر ته د ورختلو په وخت کې ما ځان لږ وروسته کړ، وروستني تن زه وم، چې د کانتینر وروستنۍ دروازې په یوه کونج کې مې ایله ځان ټینګ کړ. دروازه د سترګو په رپ کې پورې شوه. توره تیاره شوه، لږ شیبه لا نه وه وتلې، چې خلکو له ګرمۍ نه چیغې کړې، د هر چا ساه بنده شوه. په کانتینر کې دومره کسان ولاړ وو، چې حتا د یوه تن د کېښناستو چاره نه کېده. هوا بنده وه، په لومړي ځل خو چا کلیمې ویلې، چا سورت یاسین پیل کړ او ځینو له سختۍ نه چیغې وهلې او چا کانتینر په لغتو واهه. کانتینر په حرکت کې و. کله به چې کوم جمپ مخې ته راغی، کانتینر به چې جمپ وخوړ، خلک به یو پر بل ورولوېدل. په دغې بدحال کې یوه غږ کړ: ورونو بې له هغې په دې کانتینر کې مرو، خدای ته توبې وباسئ، بله لاره نه لرو. په دې وخت کې به لا شل دقیقې تېرې نه وې، چې په خلکو سخته زیاته شوه. ډېرو سمدستي خپل اعصاب له لاسه ورکړل. ډېر یې له حرکته ولوېدل. ډېر راپکې سپین ږیري او تنکي ځوانان هم وو. ما د کانتینر وروستۍ دروازې د دوو څنډو پورې ځان نښلولی و. کانتینر چې به جمپ وخوړ، په درز کې به لږه شان هوا راننوتله. ما به هغه تنفس کړه او ځان ته به مې راکش کړه. خالي مې خپله پوزه او خوله په درز پورې نښلولې وه. هغسې خو ما هم څو ځلې ضعف وکړ، د تن جامه مې د بدن په خولو لمده قیشته شوې وه. په کانتینر کې د ننه خلکو باندې قیامت او د مرګ شیبې وې. غوږ ته مې د ځینو د ساه وتلو خرار راتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه زلمي هلک غږ مې تر غوږه شو، ویلې یوه هفته مخکې مې واده کړی دی. یوه وی: خدایه د طالبانو سته‌اوباسې، چې مور یې داسې حال ته ورسولو، ما خو بل خواته مخ نه شو اړولی تورتم هم و، د کانتینر جمپ ته به په تمه وم، چې ساه راکاږم. د شاله لوري راباندې فشار او سخته راغله. زیات خلک په کانتینر کې مړه شول، په ژوندو تنګسه راغله، خدازده چې څو تنه زما په شا راپرېوتل، خو ما د کانتینر وروستي کونج ته ځان کلک کړی و. د کانتینر د جمپ په هیله به مې خپله خوله او پوزه د کانتینر دروازې درز ته نیولې وه. ښه مې اورېدل، چې ډېرو ځانونو ته شهادت وایه، خلک خو د قبر سخته وایي، مګر دا سخته څو چنده زیاته وه. د هر انسان زړه اوبه کوي. څه اوازونه، څه چیغې، څه خرار، په خدای تعالی مې دې کسم وي، چې په دغسې حالت کې د بنیادم د ساه وتل ډېر ګران کار دی. کانتینر لا روان و، یو وخت مې غوږ ونیو، د خلکو هغه چیغې او نارې غلې شوې، یو نیم زګیروی او فریاد به مې غوږ ته راته. له مانه کور او بچي هرڅه هېرشوي وو، خالي د خپل مرګ او ژوند شېبې مې شمارلې. پخپلو خولو کې ډوب ناست وم. ناست څه خو اخر د مړو له پاسه د دروازې درز ته ناست وم. څو ځلي مې زړه درزا پیل کړه، پخپل ښي لاس به مې زړه وموښود، سترګې مې پټې کړې وې. تورتم و، بې له هغې مې څه نه یدل. یو وخت کانتینر ودرېد، پوه شوم، چې همدلته به مو له کانتینره ښکته کوي. د کانتینر په ودرېدو سره ګرمي لا پسې زیاته شوه، ډېره شېبه کانتینر ځای پرځای ولاړ و. زه نو زیاتي د مرګ تر سرحده رسېدلی وم. خپله خوله او پوزه مې د کانتینر درز کې نیولې وه، خو هوا ترې نه راوتله. ډېره سختي راباندې راغله، په دې وخت کې د کانتینر ترشا دروازه خلاصه شوه، د دروازې په خلاصېدو سره سم درب درب مځکې ته ځیني مړي ولوئیدل. یو نیم فریاد اورېدل کېده، توره شپه وه. ټوپک والا څو تنه کانتینر ته راغلل. په سترګو مې توره شپه وه، خو خړ خړ مې لیدل چې عسکر دي.

په دغه وخت کې مې خپلې سترګې ورو وغړولې، څو تنه په کانتینر کې لا نیم ژواندي پراته وو. کوم یوه به نری نری فریاد هم کاوه. ما خپل ځان نور ونه خوځاوه. ځان مې بیخي په مړو کې وګاڼه. بیا مې سترګې راپورته کړې او مې کاته چې ډېر اوږد د کانتینرو کاروان ولاړ دی. شاوخوا یې ډېر وسله واله ټوپک په لاس ماشه په ګوته ولاړ وو. په زړه کې مې د خطر زنګ ووهل شو، وړاندې مې چې وکتل، کلی او ابادي نه په سترګو کېدله، یوازې سپېره د لیلی دښته وه. د کاروان مخې ته شل متره وړاندې د خاورو ډېر ولاړې وې. په زړه کې مې ټکه شوه ما وی چې دې ټولو ته یې کنده وېستلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شک کې شوم، زړه مې په ګوګل کې درزا پیل کړه، خو ورسره مې سمدستي د ځان د نجات او خلاصون لپاره چاره لټوله. څه چاره وه، خو ما ویل که کومه د خلاصون لاره ومومم. په دې کې څو بېلدوزرې د خاورو ډېرو ته نږدې ولاړې وې. شور او غامغال جوړ شو، له کانتینرو نه یې خلک راوغورزول، کوم وخت چې د کانتینرو مخې ته زموږ ټول کلي وال ډب ډېرۍ پراته و، په داسې حال کې چې په ما له پاسه دوه تنه پراته او زه هم د څو تنو د پاسه پروت وم، د سترګو لاندې مې یو نظر قدرې ولیدلو چې وسله وال راغلل. د مړو ډېر ته یې ورکتل. کوم یو به چې ژوندی و، ډز شي وبه یې ویشتو او مړ به یې کړو. همدغه شان وړاندې په ټول کتار کې به خدازده، چې څو تنه ژوندي پاتې وو. په ټولو یې ډزې وکړې او ویې وژل. بېلدوزرې چالان شوې، زه بیا پوه نه شوم، چې آ دومره خلک څه شول؟

یو وخت په بېلدوزر کې یې موږ څو تنه مړي پورته کړو. له ډاره مې سترګې بېرته کړې، ما وی بې له هغې دې وژني، یو ځل خو سترګې وغړوه. بیا مې په کراره سترګې وغړولې. بېلدوزرو د کانتینرو له مخې نه مړي پورته کول او په کندو کې یې اچول. د دښت لیلی په منځ کې یې کندې په بېلدوزرو وېستلې وې. ما چې دغه صحنه ولیده، زر مې خپلې سترګې بېرته پټې کړې. دومره وخت پکې نه و، بېلدوزر پورته کړو او د خاورو له ډېرۍ اخوا ته یې وغورزولو. په غورزېدو کې مې ځان په رغړېدو وړاندې بوتلو سترګې مې غړولې. د کندې بل اړخ ته مې ځان ورساوه. تصادف له یوه پاڼ سره مخامخ ونښتم. سترګې مې بیا وغړولې، چې وخت هم د سهار خړنې په خورېدو وه. د شفق غاړې روښانه وې، تندی مې له یوې تیږې سره ولګېد، دا وینې دا د ټپ ځای چې معلومېږي. ما وی ښه دا خو لوی پرهر دی، ښه نو بیا؟ بیا نو ځان مې د پاڼ ببخ ته غلی ونیو او پرې وتم. د سترګو لاندې مې کتل، چې نور څه کېږي. د کانتینرو مخې ته وړاندې د خړې عسکري پلنګي دربېشۍ کسان ولاړ وو. بېلدوزرو په مړو خاورې واړولې. په دې وخت کې په ما خاورې راتوپې شوې. له وړندې داسې معلومېده، چې په ما د خاورو ځلی ولاړ وي. د لمر خاته پورې په دې دښته کې په مړو خاورې واوښتې. زما ځان هم نور په خاورو کې پټ شو. یوازې مې مخ او سترګې نیمایي په خاورو کې له ډوبېدو نه پاتې وې. بې له هغې راپکې څه نه و پاتې، ایله بېله مې ساه ایستله، پخپل ځای غلی پروت وم.

د خاورو جګ او لوړ پانډونه هوار شول، هغه دومره په زرګونو طالبان او د کلیو خلک د لیلی په دښته کې چوپ پرېوتل او خاورې پرې واوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو وخت کې مې ځان په خاورو کې وسوزېد، لمر تود شو، له دښتې نه سور اور راخوت. غوږ مې ونیو او بیا مې ورو شانې سترګې وغړولې. هېڅ شی مې په نظر نه راتلو. نه هغه د کانتینرو کاروان و او نه وسله وال کسان و. دښته شاړه پرته وه. ځان مې وخوځاوه، له خاورو نه رابهر شوم، ځان مې وڅانډه. له حرکته لوېدلی وم، سر مې راپورته کړ. د پاڼ سرته وختم، شاوخوا مې وکتل، هېڅوک نه وو. په ډله ییزو قبرونو کې چې د پراخوالي اندازه یې د سلو مترو نه زیاته وه، ما یوازې په یو نظر وکتل. د قبرونو اوږدوالی زیات و او سور یې راته نه معلومېده. په کرار کرار مې حرکت وکړ او له هغې ځایه مې ځان راووېست. لږ لوړ ځای ته ورپورته شوم، دا ځل مې ښه پام وکړ، یو ډله ییز قبر خونه و، څو ډله ییز قبرونه کتار یو پر بل پسې وېستل شوي و. په ډېرو ځایونو کې په مړو خاورې نه وې اوښتې. ځینې مړي ټول ښکاره د ځینو پښې معلومېدې او د چا سر له ورایه ښکارېده. په غېر له مانه بني بشر د لیلیپه دغه خوني دښته کې ژوندی نه و. لږ وړاندې مې چې وکتل، هلته هم په عین شکل سره د څو ورځو مخکې همدغه شان نور څو ډله ییز قبرونه ښکارېدل. لکه لېونی سړک ته راووتلم، سړک د زړو ډله ییزو قبرونو ترڅنګه تېر شوی و. څو ګامه مخکې لاړم، وړاندې مې ولیدل، چې کجیران مرغان په مړو لګیا وو. یو بد بوی او تعفن رابانډګ راغی، ما وی ګنې زړه مې وچاودېد. د خپل کمیس لمن مې پوزې ته ونیوله او په منډه له هغه ځایه راروان شوم. ګرمي وه، د تندې نه مې ژبه په خوله کې وچه شوې وه. د لوږې او تندې مې مزل نشو کولای. د بلې خوانه راته د لیلی دښته سره تبې شوې وه. په سړک کې روان وم، له ځان سره مې سوچ وکړو ما وی که په دې سړک روان یې او کوم موټر درته مخې ته راشي، وسله وال پکې وي، خو خامخا دې ژوندی نه پرېږدي، راځه له دې سړکه په څنګ شه. په شاړه شاړه کې به له دښتې نه ووځې. بس همدا فیصله مې له ځانه سره وکړه، سړک مې پرېښود او په دښته کې روان شوم. ډېر مزل مې وکړو، لمر هم پوره تود شو. په بدن کې مې هېڅ طاقت او شیمه نه وه، خولې رابانډې روانې وې، سترګې مې تورې تورې کېدې، په دښته کې هم سم نشوم تلای. وړاندې ایله د سترګو په لیدو یوه شنه ونه ښکارېده. زما د تګ په لوري مخامخ ډېر لیرې دغه ونه معلومېده. تلمه تلمه ونې ته ورنږدې شوم. شاته مې چې پام وکړ، ډله ییز قبرونه تقریباً اته کیلومتره وړاندې پاتې شول. کله به ولوېدم او کله به راپورته شوم، په لوڅو پوڅو ونې ته ورنږدې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونې خواتـه ورغلـم، ومـې ليـدل چـې د ونـې سـيوري تـه دوه هوسـۍ ولاړې دي، پـاس د ونـې لـه يـو ښـاخ نـه مارتـاو شـوی و. پـه مـار چـې مـې سترګې ولګېـدې، کـسم دی چـې د سـر غـوني مـې لـه ډاره رازيـګ شـو. د ونـې ترڅنګـه ولاړ انـدې پـه يـوه تيـره تيـږه کربـوړی پـروت واو لـه ګرمـۍ نـه يـې ژبـه راوېستلې وه او سـر يـې خوځـاوه. زمـا پـه ليـدو سـره هوسـۍ وتښتېدلې ونـې تـه نـور نـږدې نـه ورغلـم. خپـل څادر مـې لـه سره تـاو کـړ او پـه دښتـه کـې بيـا رهـي شـوم. کلـه غـورزېدم او کلـه پاڅېـدم، مخـې تـه بـه مـې چـې پـام وکـړ پـه غيـر د ليلـی دښـتې نـه بـل څـه نـه ليـدل کېـده. بيـا بـه چـې سـتړی شـوم، پـه لـوړه بـه ودرېـدم او شـاوخوا بـه مـې پـام وکـړ. نـه بـه ودانـۍ ښـکارېده او نـه کومـه ونـه. ماسپښين شـو، کلمـې راپـورې لـه لـوږې نـه لګېـدلې وې. پـه خولـه او سـترګو مـې خـاورې پرتـې وې. پـوره يـو سـاعت مـې دښـته نـوره هـم ووهلـه. ډېـر ليـرې د سـترګو پـه ښـکار لـوړې ونـې ښـکاره شـوې. پـه زړه کـې لـږ خوشـاله شـوم، مـا وی چـې د ليلـی دښـته کـې رابانـدې شـپه رانـشي او همـدغې آبـادۍ تـه ووځـم. روان وم او پـه تلـو تلـو کـې خيـال او چـروت يـووړم. خپـل د کلـي خلـک مـې رايـاد شـول، هـر يـو مـې پـه خيـال کـې يـو يـو لـه نظـره تېـراوه. هـر يـو چـې بـه مـې پـه فکـر کـې راغـی، زړه بـه مـې تـاو وکـړ. هغـه زمـا د تـرور زامـن، د کلـي اربـاب صـاحب، هغـه خيـال ګـل مامـا ، ميـراب ګـل سـر مـې رابانـدې وګرځېـد. سـترګې مـې تـورې تـورې شـوې، بـې خـده شـوم. ځـای پرځـای کېښناستم، څـه ډېـر سـاعت ناسـت وم. بيـا مـې سـترګې وغړولـې لـه ځايـه راپورتـه شـوم. مـا وی چـې ناوختـه نـشي. مخـامخ مـې د سـترګو پـه نظر وړاندې د چنارونو ونې پـه نظر کې ونيولې او ورروان شوم.

دوه سـاعته مـزل مـې وکـړ، چـې جګـو د چنـار ونـو تـه ورنـږدې شـوم. د مـازديګر سـيوری پـه کړېـدو و، چـې زه ونـو تـه ورسـېدم. د چنـارانو ګڼـې ونـې ولاړې وې، وړانـدې د چنـارانو شـاته کلـی ښـکاره شـو. زړه مـې ايلـه خوشـاله شـو، مـا وی اوس کـه مـړ هـم شـم، خلـک بـه مـې پـه آب و تـاب کـې ښـخ کـړي. پـه مـا کـې هېـڅ شـيمه نـه وه پـاتې. حالـت مـې لکـه د لېـوني داسـې و. د يـوې ونـې سـتې تـه مـې کونـاټی ولګـاوه، زړه مـې و چـې ښـه پـوره دمـه وکـړم. د ليلـی دښـتې نـه راوتـل پـه دغـه حـال کـې څـه آسـانه کـار نـه و. د چنـار د ونـې درونـد سـيوري تـه مـې سـاه واخيـستله، بـدن مـې سـوړ شـو، خولـه مـې وچـه شـوه. جـامې مـې پـه خـاورو او خولـو کـې لـت پـت شـوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا رابانديږ خلکو د لېوني ګومان کاوه. ډېره شېبه وروسته د هلکانو ډله راغله، له وړانديږ چې راروان وو، په ماکې يې سترګې ښخې کړې وې. ما هم هغوی ته کتل ښه يقين مې پرې راغی، چې د ترکمنو بچې دي، چې رانږدې شول، پخپلو کې يې خبرې کولې. ترکمني يې ويلې. له جامو نه هم او چت ترکمن معلومېدل. خواته مې چې رانږدې شول، په تعجب او حېرانۍ سره يې ماته راکتل. ما هغوی ته کتل. هلکان پوه شول، چې کوم ځوک دی، لېونی شوی دی. ما پرې سمدستي غږ وکړ:

او بچه ها! بيائيد اينجا. هغوی چې دا خبره واورېده، منډه يې واخيسته او د کلي په لور وتښتېدل. په عمر ټول هلکان لس يوولس کلن به وو. په شور او زوږ سره په کلي ورننوتل. لږه شېبه پس مې پورته چنار ته پام وکړ، پاس په يوه ښاخ بانديږ کاکو ناست و، کوکو، کوکو ناري يې وهلې. له کلي نه د تيل پلو بوی مې په پوزه ولګېده. پوزه مې راښکده، چې تيل پلو بوی زيات شو.

په زړه کې مې کلي ته تمه پيدا شوه. زه لا په دې سوچ کې وم، چې له کلي نه درې ځلور تنه سړي راغلل. دوه هلکان هم ورسره وو. لږ چې رانږدې شول، هلکانو ماته ګوته ونيوله او سړو ته يې زه ورپه ګوته کړم. هغوی راروان وو. ما ورته مخامخ ورکتل. هغوی هم ترکمن وو. راتلل، راتلل خوا ته مې رانږدې شول. ښکته پورته يې راته پام وکړ، يوه يې رانه سمدستي پوښتنه وکړه، ويلې: برادر تو کيستی؟ ما وی: يک انسان افغان و مسلمان! بيا يې وويل: از کجا امدی؟ و اينجا چه ميکنی؟

ما وی: راه را غلط کردم، شب در يک دشت خدا تير کرديم و حالا به اينجا رسيديم. بسيار ګوشنه شديم، اګرشما چيزی نان بمن بدهيد؟

هغوی رابانديږ پوه شول، چې دی پښتون دی. يوه بل يې وويل: راځه چې ځوو. هغوی زما جامو او حالت ته حيران او په فکر کې و، چې دا ولې په خاورو او دوړو کې لړلی دی؟.

ما وی چې د کوم طالب ګومان رابانديږ ونکړې، ورته مې وويل: برادران بالای من فکر طالب ماليب نکنيد، من يک شخص مسلمان هستم و در شولګره بدوباش دارم. در نزديک بالاحصار جنګ درګرفت من در انجا کار داشتم. وقتيکه به خانه برميګشتم راه قريه ما از بست جنګ بند شده بود. از راه ديګری حرکت کردم، همان بود که راه را غلط کردم. از مابين يک دشت در ريګ و خاک خود را به اينجا کشيدم.

يوه سړي راته وويل: اوس نو څه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروره وړی یم، تـه دا زمـا حـال نـه وینـې؟ لېـونی نـه یـم، روغ رمـټ انـسان یـم. مـا ورتـه دا خبرې په فارسي کې وکړې. مازدیګر لمر په غړغړه و.

هغـوی لـومړي پخپلـو کـې سره وویـل: بیچـاره سړی دی، معلـومېږي، چـې طالـب مالـب نـه دی. پـه ترکمنـي ژبـه کـې یـې خپلـو کـې دا خبـره وکـړه. زه خـو پـرې پوهېـدم، ځکـه چـې مـا خـو زیـات وخـت د ترکمنـو سـره تېـر کـړی و. ویلـي راځـه وروره مـوږ سره. هغـه چـې دا خبـره وکـړه، ډېـر زیـات خوشـاله شـوم. مـا وی ځـه خـواږه بـه راکـړي. لـومړی مـې خېټـې تـه څـه ورشي، نـور بـه کېږي. زه ډېـر سـتړی شـوی وم، پـه وجـود کـې مـې نـور څـه نـه و پـاتې. لـه ځایـه جګېـدای نـه شـوم. خـواري مـې وکـړه، خـو د چینـار لـه سـټې نـه پورتـه نـشوم. یـوه راتـه لاس راکـړ او لـه ځایـه یـې پورتـه کـړم. ګـوډ ګـوډ پـه لاره ورسره رهـي شـوم. پـه کلـي چـې ورننوتـو، د تیـل پـلاو بـوی رابـانې راغـی. تلـو، تلـو چـې د کلـي مـنځ تـه ورسـېدو. وړانـدې یـوه لویـه کـلا د کلـي څنـګ تـه ښـکاره شـوه. شـاوخوا تـه یـې ونـې ولاړې وې. د کـلا و مخـې تـه باغچـه وه. دوه چینـاران یـې د کـلا دروازې تـه مخـامخ ولاړ و. یـوه لویـه صـوفه تـرې د لانـدې جـوړه وه او هـم د صـوفې مخـې تـه ودانـي ښـکلې برنـډه وه. د برنـډې شـاته لویـه خوشـخانه (حجـره) وه. پـه صـوفه کـې یـو سـپین ږیـری تـرکمن پـه څـوکۍ ناسـت و. تـسبې یـې اړولـې. مـوږ چـې ورغلـو، سـلام مـو واچـاوه. هغـه وعلیکم ووایه.

سمد سـټي ورتـه یـوه تـن پخپلـه ترکمنـي ژبـه کـې وویـل: دا سـړی هلتـه د چینـار سـټې تـه ناسـت و. وایـي د مزارشریف د شـولګرې د علاقـې یـم، لاره مـې غلطـه کـړې ده. پـه دښـته کـې راغلی یم، یوه شپه پرې تېره شوې ده. حالت یې دغسې دی، موږ له ځان سره راوست.

سـپین ږیـري ورتـه وویـل: ښـه مـو کـړي، لـومړی دا جـامې وربـدلې کـړئ او بیـا ورتـه ډوډۍ راوړئ. سړي چې دا خبره وکړه، په زړه کې مې ګوړې ماتولې.

تـشناب تـه یـې بـوتلم، ځـان مـې پرېمینځلـو، نـورې جـامې یـې راتـه راوړې. لـه غـسل نـه پـس مې په صوفه کې د مازدیګر لمونځ وکړ، په ډېر مشکل سره مې لمونځ وکړ.

لـږه شـېبه وروسـته همغـه ځـوان، چـې د بـوډا سـره یـې خبـرې کـولې، ډوډۍ راتـه راوړه. مـا خـو دوه ورځـې ډوډۍ نـه وه خـوړلې، کلمـې راپـورې وچـې شـوې وې. لـومړۍ مـړۍ مـې پـه مـرۍ کـې نـه تېرېـده. د اوبـو ګـوټ سره مـې پـه زور زور سره مـرۍ لـږه آزاده شـوه. پـه کـرار کـرار مـې ډوډۍ وخـوړه. لـه ډوډۍ نـه وروسـته یـې چـای راوړ. د ماښـام لـه لمانځـه نـه وروسـته سـپین ږیـري سړي او څـو تنـه نـور د کالـه خاونـدان کـور تـه ننوتـل. دوه تنـه مـزدوران غونـډې زلمـوټې پـه خوشـخانه کـې پـاتې شـول. هغـوی دواړو هـم ډوډۍ وخـوړه. خپـل ټـول کارونـه یـې سـم کـړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا زما خواته راغلل. یوه راته د چای شنه پیاله د شین چای نه راړکه کړه. مخامخ راته دواړه کښېناستل. زما بدن درد کاوه، سخت په عذاب وم.

دواړو ته مې وویل: وروره که په کور کې د هډوکو د درد ګولۍ لرئ، ماته یې راوړئ، ډېر په تکلیف یم. هغه یوه وویل: ښه ده زه به کور ته لاړ شم. ما له دا بل نه پوښتنه وکړه. ما وی وروره ته دلته ددې سپین ږیرې زوی یې که...؟

هغه وویل: نه زه یې مزدور یم، دغه بل یې هم مزدور دی. ما ترې بیا پوښتنه وکړ: دا څوک دی؟

وروره دا خو ددې کلي ارباب (ملک) دی. خدای ډېرې مځکې او مالداري ورکړې ده. یوازې پېنځه سوه خو آسان لرې. دغه شان مېږې، غواګانې د هېڅ کمی یې نشته دی. کله کله ورکره دوستم هم راځي، مګر ډېر مهربانه سړی دی ! هر کار او مشکل که ولرې، دی درسره مرسته کولای شي. ما وی هېڅ مشکل نه لرم، خالي لاره مې غلطه کړې ده. په دغسې تکلیف اخته شوم. دی خواته زه کله نه یم راغلی، دا طرفونه راته ټول نااشنا دي. سبا ته چې کور ته تلم ارباب صاحب به راته یو خط راکړي، چې په لاره مې څوک په عذاب نه کړي. هغوی کې یوه وویل: دا خو آسان کار دی. ما لا بلې خبرې ته خوله جوړوله، چې ارباب صاحب راننوت. یو زلمی زوی او بل ورسره وړوکی هلک، چې لمسي یې کېده، راننوتل. مزدوران یې سپک سپک له ځایه پاڅېدل. زه هم احترام ته ورپورته شوم، ویلې کښېنه کښېنه بچی. پخپله ژبه کې یې وویل. سپین ږیری د نسوارو ډبلی راواخیست، یوه ټونګه نسوار یې خوله کې واچول. ماته یې د نسوارو وویل، ما وی ارباب صاحب زه نسوار نه کوم. لږه شېبه وروسته چای راوړل شولې، ارباپ چې نسوار وکړل، درې دقیقې وروسته یې د ژبې په سر داسې وویل: ښه وروره اوس وایه، چې ته څوک یې او د کوم ځای یې؟

ارباب صیب زما نوم شمس الدین دی، په خټه مومند یم. اصلي د جلال آباد د مومند درې یم. پخوا وخت کې مې مور په خره مزارشریف ته راوړی وم. پلار مې څه موده پخوا راغلی و، د شپېته او یا کالو خبره ده. په شولګره کې مې ځمکه او کور دی. هلته زمونږ د ناقلینو لوی کلی دی. هغه بیا وویل:

رښتیا آبله ورځ خبر شوم، همدغه ستاسې په کلیو کې یې ستاسې او غانان په کانتینرونو کې وړې دي او ټول یې وژلي دي؟ ما سم له واره فکر وکړ، ځان مې په ناخبرو کې واچاوه. په تعجب کې مې ورته وویل: آخ ارباب صاحب دا څه وای، دا خبره رښتیا ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې هغه نه، بلکې ناستو کسانو ټول وویل: هو. هو، خود رښتیا ده. ارباب وویل: لکه چې ته په کور کې نه وې که څنګه؟ نه نه ارباب صاحب، زه له خپل کلي نه لیرې یو بل کلي ته د یوه خپلوان کره تللی وم. د څه نه خبر نه یم. هغه بیا وویل: که په کور کې وې، نو حتمي به یې ته هم وړی وا. ښه شوې چې په کلي کې نه وې. ما هم ورته په فارسۍ کې ځواب ورکړ. ما وی: نی صاحب طالب نیستم، یک ادم دهقان کار هستم، مگر پشتون هستم !

هغه وویل: خوب است که طالب نیستی، پشتون هستی خیر است. دا خبره یې وکړه. ما بیا په وارخطایۍ سره ترې پوښتنه وکړه: ارباب صاحب زموږ کلیوال چې یې وړي دي، ټول یې وژلي؟

هغه لږ غلی و، بیا یې د خپګان او تاسف په حال کې وویل: بلی، تمام شان در دشت لیلی کشته اند. نفر خودمان از قلعه بالاحصار دیروز امد.

بیا یې په ډک او غلي اواز ویول: امریکایها برایشان استاده بودند. در مرگ تمام طالبان قوای خارجی کمک کردند، مگر کشتن اوغان های بی گناه را ظلم کرده است. خو ده خپلې خبرې نورې پسې زیاتې کړې. وې ویل، چې طالبان خو یې مړه کړل، نورو د کلیو پښتنو څه ګناه درلوده. دا خو د خدای او رسول لاره نه ده. دا ډېره ناروا ده، چې دوی کړې ده. غاړه یې تازه کړه او په جګ غږ یې وویل: پرون یې په دا وړاندې کلي کې چې تقریباً شپېته کډې ستاسې اوغانان پکې اوسېږي، له هر کوره یې کوم چې افغان (اوغان) دی ویستلي دي او بیولي یې دي. معلومدار چې هغوی هم وژني. د خدای قهر دی ملک کې جوړ شوی دی. کله پشتون تاجک، اوزبک، هزاره او ترکمن وژني او کله بیا دوی پښتانه وژني. خپل منځۍ جګړې او مرګونه خو لا پرېږده. له دې خبرې سره یې جوخت د چای پیاله پورته کړه او ګوټ یې ترې وکړ. ماته یې مخامخ راوکتل، وې ویل اوس ته وو ایه، څه غواړې، چېرې ځې، کلي ته ځې او که بل چېرې. زه خو درته د کلي د تلو مشوره نه درکوم، خو ته راته د خپل زړه اصلي مطلب ووایه.

ما وی ارباب صیب ! زه بیا هم درته وایم، چې کومه ګناه راکې نشته دی، طالب نه یم. بل کوم مشکل مې مخې ته نه دی پروت، له ما سره د چا څه کار دی. سبا به راساً خپل کلي کور ته ورځو. ارباب راته وویل: بچی ساده کېږه مه، ما خو درته مخکې خبره وکړه، ستا کلیوالو څه ګناه درلوده، ته هم د هغې کلي یې. کله دې پرېږدي، که کولای شې هېڅ کلي ته مه ځه، کوم بل ځای ته لاړ شه. دلته د پښتنو شپې نورې ګرانې دي. یوازې دلته نه، په کندوز او ټول قطغن زمین کې یې په پښتنو پسې دا ځل راخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره دي خپله خوښه !

زه حېران، هک پک پاتې شوم، چې څه وکړم؟ په دې وخت کې ارباب صیب تشناب ته لاړ. ما له ځانه سره فکر وکړ، چې ښه ربښتیا وایي که کلي ته ورشم، د کلي خلک خو زما په مخ کې له منځه لاړل، نو د کلي ښځو ته به زه څه وایم؟.

فیصله مې له ځان سره دا وکړه، چې په هر ترتیب سره کېږي ځان خپل پلارني پخواني کلي مومند درې ته ورسوم او له هغه ځایه بیا د خپلې کورنۍ د پاتې غړو غم وخورم. په زړه کې مې بس همدا فیصله وکړه. ما وی ددې ځای نه د وتلو به له ارباب صیب نه خط واخلم، چې لار کې مې ترکمن، اوزبک او دا نور ونه څوروي.

زه لا په دې سوچ کې وم، چې ارباب صیب راغی، پخپل ځای کښېناست. ما وی ارباب صیب همدا ستا مشوره مې ومنله، د څو ورځو لپاره به ځان له کلي نه ګوښه کړم. کومې بلې خوا ته به ځان وباسم. که تاسې راته سبا ته په خیر سره یو لیک راکړئ، چې په لار کې مې څوک په تکلیف نه کړي. ارباب صیب وویل: ولې نه، زه به لیک درته ولیکم. له دې منطقې (سیمې) نه به روغ وځې، اخوا ته دې کار خپل دی. ما بیا ورغبرګه کړه، ارباب صیب اوس نو راته په هغه کلي کې ژوند کله خوند راکوي، نور کلیوال به مې نه وي او زه به کلي کې ګرځم راګرځم. دا خو زما پښتو او غېرت نه مني. که مال، عیال مې پکې تباه شي، بیا به دغه کلي ته ورنشم. د شپې تر ناوخته پورې ارباب راته د شمالي ولایتونو د جنګ سالارانو او قوماندانانو له لاسه سر وټکاوه. ماخستن تیر یې راته یو لیک ولیکلو. د ټولو کلیو او سیمې وسله والو ته یې زما په هکله ښه لیک پخپله ولیکلو او رایې کړو. وې ویل په لاره کې چا په تکلیفولې، دغه لیک ورښایه. څوک درته څه نشي ویلی. لیک یې راکړو او له ځایه پاڅېد. ماته یې وویل: سهار چې دې چای مای وڅښلو، بیا به له دې ځایه رخصت شې. ما وی ارباب صیب تا دې الله پاک ژوندی لري، سبا ته زه وختې لمانځه نه وروسته له دې ځایه حرکت کوم. ویلې ښه نو چې څنګ دې خوښه وي، همغسې وکړه. که سبا ته تللی وې، پرمخه دې ښه شه. لاس ونه مې ورته ښکل کړل. مخه ښه یې راسره وکړه او لاړ دننه کورته ننوت.

ما د ارباب مزدورانو ته وویل: وروره سهار به راته لاره راوښیوئ. هغوی هر یوه وویل: هو سبا ته به وختې درته چای جوړې کړو، چای به وڅښې، بیا به دې لارې ته سیده کړو، ځې به.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرېوتلو ځای يې راته جوړ کړ، زه خو بې له هغې ستړې ستومانه او بې خوبه وم، پر بستره ولوېدم. تر سهاره مې پوره ښه خوب وکړ. سهار وختي يې راوېښ کړم، لمونځ مې وکړ، هغوی راته مخې ته چای کېښودې. ما په چالاکۍ يوه پياله چای وڅښلې. هغوی ته مې وويل: وروره خدای مو ژوندي لره، اوس نو لاره راته وښايه، چې لمر رابانديې تود نشي.

د ارباب له حجرې نه راووتلم، يو تن راسره له کلي نه راووت. د يوې لارې په سر کې ودرېد. ويلې هغه وړاندې ونې چې ښکاري، هغه ځای پورې به په همدې لاره مخامخ ځې. کله چې ونو ته ورسېدې، يوه لار ښي پلو ته او بله مخامخ تللې ده. مخامخ لاره کلي ته ځي او ښي پلو لاره سړک ته وتلې ده. ته به همدغه ښي خوا ته لاره ونيسې. په سړک به ځې. که موټر درته پيدا شو، لاس به ورته ونيسې. هر چېرې چې تلې، ور وبه خېژې، ځه نو په مخه دې ښه. هغه رانه ستون شو او ما خپلو پښو ته زور ورکړ.

له يوه ساعت مزل نه پس ونو ته ورسېدم. په دوه لارې ودرېدم. د ښي لاس لارې ته وګرځېدم، لمر راوخوت، يوې ونې لاندې مې دمې لپاره خپل څادر تر کوناټې لاندې کړ. شاوخوا مې پام کاوه، مخامخ وړاندې کلی ښکارېده. په کلي کې ځای پر ځای لوګي ختل. د لږې دمې نه وروسته مې بيا لاره ونيوله او په مزل مې پيل وکړ. سړک کې کاڼي او تيږې دومره نه وې، خالي سپېرې خاورې وې. تر زنګانه پې سړی ښخېده. خپل څادر مې له سره تاو کړ، ما وی چې ګرمي مې ونه وهي. بندي کس لا په سړک نه ښکارېده. د چينارانو ونې رانه شاته وړاندې پاتې شوې. په يوه کڅ کې سړک تللی و، د سړک دواړو خواو ته پنبه ولاړه وه. ځای ځای د خټکيو پاليزونه هم تر سترګو کېدل. په ويالې او پټيو کې د چنګښو قور، قور مې تر غوږونو رارسېده. پوره ډېر مزل مې وکړ، له يو نيم ساعت مزل نه وروسته د موټر غرهاری شو. شاته مې کاته چې دوړې وې يو زوړ لوی واګون ګاډی راروان و. زه د سړک په غاړه ودرېدم، لاس مې ورته ونيو. ګاډی ودرېد، يو د اوږدو ويښتانو زلمي موټر چلاوه. غږ يې وکړو: ويلې چېرې ځې. ما وی موټر چېرته ځي، هغه وويل: د پلخمري خوا ته ځو. ما وی استازه! زه هم پلخمري ته ځم. کلينر غږ کړو ويلې راځه راوخېژه. موټر ته وروختم او په يوه څوکۍ کې کېنښناستم.

موټر روان شو او په دوړو کې بيخي پټ شو. د موټر ښيښې ماتې وې، دوړې او خاورې موټر ته راننوتې. د لږ مزل نه وروسته په دوړو او ګردونو کې پټ شوم. اوه اته تنه نور په موټر کې ناست وو. په څادرو کې يې ځانونه نغښتي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ نه معلومېدل، چې څوک دي؟ له ډېر مزل وهلو نه وروسته موټر ودرېد. موټروان غږ کړ، ویلې: تالا شي ده، د دوستم دوی پوسته ده. موټر ته دوه تنه راوختل. هر یوه ته به یې پام کاوه. په چا چې به بې شک راغی، اسناد به یې ترې غوښتل. له ما یې هم اسناد وغوښتل. ما ورته د ارباب صیب لیک ورکړ. ما وی نور اسناد نه لرم. خدازده، چې په خط به پوهېده او که نه؟ سمدستي یې لیک بېرته راکړ، موټروان ورته څه پیسې په لاس کې کېښودې او له موټره ښکته شول. موټروان نو بیا پښه پرې ټینګه کړه او په یو رپ کې د مزار له ساحې نه واوښت. ماسپښین قضا و، چې پلخمري ته ورسېدو. هلته مو دمه وکړه، لمونځونه مو هم وکړل او ډوډۍ خوړلو نه وروسته د پلخمري بازار کې وګرځېدم. هلته هم د خلکو وضعه راته مړه غوندې ښکارېده. څو تنه دوکانداران مې پېژندل. ما وی راځه ورچکر شه، ګوندې وي. په بازار کې د هغوی دوکان پلو روان شوم، چې نږدې ورغلم دوکانونه مې ورکتل هغه دوکانونه او هغه دوکانداران مې هېڅ په نظر رانغلو. دوه درې ځلې په بازار کې ښکته پورته لاړم، اشنا څوک مې نه کړو پیدا.

بازار کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه، خو څنګه چې پخوا و، هغسې مزه یې نه وه. یوه سماوار ته وروګرځېدم، ما وی چای مای به وڅښم بیا به د تلو فیصله له ځان سره کوم. په سماوار (هوټل) کې خلک په تختو ناست دي، څوک چای څښي، څو ډوډۍ خوري، ځینې پخپلو کې سره خبرې اترې کوي. یو نیم پکې چوپه خوله ناست و. زه په یوه غالۍ چې د لرګیو په تختو غوړېدلې وه، کښېناستم، دېوالته ته مې ډډه ووهله. د هوټل شاګرد راته چای راووړ، په شنه پیاله کې مې له چاینکې چای راواړاوه، چې یوه تن مې له شانه په اوږه لاس کېښود. زړه مې کش وخوړه. ما وی څه لکه چې بیا یې ونیولې، ما خپل لاس دستي پخپل جیب کې ومانده، ما ویل چې د ارباب صیب کاغذ ورښکاره کړم. ما چې هغه ته کاغذ ونیو، ویلې شمس الدین خانه لکه چې ودې نه پېژندم؟ وې خندل ما وی بشیر جان نه یې؟

ولې نه! بشیر یم. ورجګ شوم، د غېږې برګنډۍ مې ورسره وکړه، خواته مې کښېناست، هغه زموږ د کلي و. دستي مې ترې پوښتنه وکړه: والکه ته څنګه ترې ژوندی پاتې شوی یې؟

هغه موسکی شو وې ویل: دا ته نو څنګه ژوندی ګرځې. موږ دواړه لږ موسکي غوندې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه راباندې رادمخه شو، خبرې يې په خولې کې ورو کړې. شاوخوا يې وکتل، بيا يې راته وويل: په دې ځای کې زما او ستا خبرې نه کېږي، دا د چای پیالې دې وڅښه چې لاړ شو. ما زر توده پیاله په دوه درې ګوټونو کې تشه کړه. هغې ته مې وويل: تاته چای واچوم، هغه وی نه نه. زه خو دا دی اوس له کوره راغلم. ته دلته... له کوره. هو دلته خو زما د ترور زوی دی. له پخوا نه په دې پلخمري کې اوسېږي. د جمعيت ستر سړی دی. د هغوی کره راغلی یم. ته راځه چې ووځو. له سماوار نه راووتلو او په بازار کې د فابريکې په لور روان شوو. په بازار کې ډېر خلک ښکته پورته تلل. يوځای ته ورسېدو هغه رانه مخکې شو او زه ورپسې. تلو تلو له بازاره ووتلو. په یوه بله کوڅه کې وراندې لاړو.

د خلکو ګڼه ګوڼه کمه شوه. ده مخ راستون کړو، ويلې راځه چې د هغې سپيدارو سيوري ته کښېنو او خپلې خبرې وکړو. له مانه دده تلوسه زياته وه. ما وی ډېره ښه ده. د سپيدارو يوې ګوړې ونې لاندې کښېناستو، ده سمدستي وويل: دلته د ترور په کور کې خلک ډېر دي، زما او ستا خبرې هلته نه کېږي. همدلته به سره ځانونه وپوهوو، بيا به لاړ شو. ما وی له دې نه ښه خبره چېرته ده! ما زر له ځان سره فکر وکړ، ما وی لومړی به همدا خپله کيسه او معلومات راته بيان کړي، بيا به زه ورته خپل کيسه وکړم.

ما وی ښه انډيواله کيسه کوه، کلي ته څه حال دی؟

ده وې: دا خبره درنه ما غوښتل چې وپوښتم!

هغه بيا وراندې شاوخوا پام وکړ، پخپلو برېتو بې لاس تېر کړ. وې وويل: زه خو دا دوه اونۍ کېږي، چې له کلي راوتلی یم. دلته مې د توري کره راغلی یم. هره ورځ له دې ځای نه ځان خبروم. په مزارشريف کې حالات خراب دي، جګړه ده. دو راته وايي مه ځه، حالات به ښه شي بيا به ځې.

زه چې له کوراو کلي نه راتلم، خو کراري وه. يوازې په بالاحصار کې طالبانو سخت مقاومت کاوه، جنګ لا روان و. په کليو کې لا شی می نه و. که څنګه؟ بيا ماته څوک رښتيا حال نه وايي. ولې د ترور ټوله کورنۍ راته خپه ښکاري، نور نه پوهېږم. دده له خبرو پوه شوم، چې دی د کلي د حالاتو نه چا نه دی خبر کړی. په خبرو کې به يې زما سترګو ستر ګو ته راکتل. هغه وويل: ښه نو اوس ته راته وايه، چې څنګه دلته راغلې، کور و کلي ته څه حال دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مرۍ وچه وه، دوه ځلې مې غاړه تازه کړه، اصلي خبرې مې خولې ته چېرته راتلې؟ لړه شېبه غلی پاتې شوم. د کلي په خلکو کې دده یو مشر ورور او دوه تنه د تره زامن د لیلی د ښتې خپل ګوګل ته تېر کړي وو. هغه راباندې شکمن شو، ویلې شمس الدین خانه ته خو د کلک ځیګر خاوند وې، څنګه غږ کنده او غلی غلی کېږې؟

ما ځان ډېر تېر راتېر کړ، خو نه کېده، خبرې مې له خولې نه راوتې، ګڅ او ګول شومه. هغه راته حېران، حېران کتل. همدا یې ویل: شمس الدین خانه هرڅه چې وي، وایه نو، اوس خو زموږ سر له راغلې ده.

زما ستوني ډک شو، سترګو نه مې د اوښکو باران راروان شو، یو ځل مې په زوره غږ کړو: څنګه یې وواېم؟ څه درته وواېم؟ د ویلو نه دي! زړه خو مې بې له هغې ډک و، نور ټینګ نه شوم، خپل سر مې په زنګنو ټیټ ونیو او ښه مې په زوره زوره وژړل. هغه هم له ما سره ژړا غبرګه کړه.

هغه کوښګښ کاوه، چې تسلي راکړي او اصلي خبره باندې ځان پوه کړي. زما خو زړه ډک و، د سپیدار لاندې مې ډک زړه تش کړ. له زنګنو مې سر راپورته کړ، خپلې سترګې مې له اوښکو وچې کړې، هغه راته بیا وویل: ماته رښتیا، رښتیا وایه، بې له هغې مې خراب خراب خوبونه لیدلي دي.

ما وی انډیواله صفا خبره دا ده، چې د کلي ټول خلک یې دوه ورځې مخکې د لیلي په دښته کې وژلي دي. د هغه د تندې ګونځې نورې هم څو کرښې زیاتې شوې. ویل آخ دا څه وایې؟ شمس الدینه له چانه دې اورېدلي دي که څنګه؟ ته نو څنګه..؟ ما وی چې زه هم پکې وم، نور هغه بیخي بې واره شو. دا نو څنګه چل شوی ته خو راته سمه اصلي خبره وکړه. له خپل ځایه ماته لږ راوړاندې شو، یو اوښکې او لاس یې رپېدل. په وارخطایۍ یې وویل: هله کیسه کوه!

زما زړه تش شوی و او سېله مې برابره شوه، له سره مې ورته کیسه راونیوله. هغه راته مخامخ ناست و، غوږ یې ایښی و، ما ورته ټکي په ټکي کیسه پیل کړه.

د هغه زړه وار نه کاوه، ویل بالاحصار ته یې زموږ د کوره څوک راوستي وو؟ ما وی ورور دې و او دوه د کاکا زامن دې. نو بیا څنګ چل وشو. د ورور او کاکا زامنو په اورېدو بې لاړې په مرۍ کې ونښتې. ما چې خبره په کانتینر کې د بندېدو او د خلکو د سلګیو او چیغو نارو ته ورسوله، نور نو د هغه وضعه خرابه شوه. په ږیره یې رڼې اوښکې راماتې شوې. په کانتینر کې مې تېر شوی حالت ورته تېر کړ. هغه نور پسې ژړا ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل د څادر پيڅکه يې مخ ته نيولې وه. ما چې ټوله کيسه ورته تېره کړه، هغه له خپله ځايه راپورته شو. غبرګ يې ته راغاړې وت. دواړو په چيغو، چيغو وژړل. يو نيم څوک چې به په لاره تېرېده، موږ ته به يې راوکتل. ښه مو چې بيا سره زړه تش کړ. بيا هغه په نيولي غږ وويل: شمس الدين خانه راځه چې اوس د خاله کور ته لاړ شو، نورې خبرې به هلته کوو. موږ دواړه د هغې د ترور کور ته لاړو. د هغه د ترور کور له ښاره وتې په يوه کڅ کې يې کلا جوړه کړې وه، مخې ته يې لوی بڼ و. موږ د کلا مخې ته په دېره کې کښېناستو. يو تن په دېره کې د لرګيو پر تخت اوږد غزېدلی و، د خپلې چپنې لستونی يې په سترګو اچولی و. ښځ ويده و. دی ګړندی لاړ د ننه کلا ته ورننوت. زه په سوپه کې د چينار لاندې په توشک کښېناستم.

د سوپې په يوه کونج کې د اوبو غټه چاټي ايښې وه. په جام کې مې اوبه تری راواخيستې او په سر مې راواړولې. لږه شېبه وروسته هغه (پرويز) بېرته له کلا نه راووت او زما خوا ته راغی. ويلې کور کې يوازې تورسرې دي، نارينه ټول بازار ته وتلي دي. رښتيا تورچای څښې که شين؟ ما وی هر يو چې وي را يې وړه. ويلې دواړه شته. ما ويل شين چای راته راوړه. پرويز لږه شېبه کښېناست بيا پاڅېد. په تلو کې يې وويل: ترور مې رانه پوښتنه وکړه ويلې رنګ دې ځنګه زيړ دی، خپه غوندې ښکارې؟ ما وی نه نه توري، څه خبره نشته دی. چای مې چې راوړو، بيا به دواړه وغږېږو، چې دوی خبر کړو که نه؟

هغه سمدستي د چای پتنوس سره راغی. دوه په دوه چای ته کښېناستو. ما چې ده ته کتل، ډېره خپه او ستومانه معلومېده. ما وی پرويز خانه د خدای کار دی اوس خو راغلي ده، له پېښې نه تېښته نشته دی. که زما اورې خو توري دې خبر کړه. دا ټول خبر کړه، ستا د ترور زوی خو بې له هغې له دې نورو سره لار لري، کلي ته به يې ولېږو، چې پوره حال احوال راته راوړي. هغه لومړی لږ په فکر کې شو لږ غلی پاتې شو. بيا يې وويل: ښه ده، چې ته ځنګه وايې، همغسې به وکړو. زما خو همدا نظر دی، چې دا ستا د ترور زوی به کلي ته ولېږو، که بې وکولای شول ستا او زما واړه به راولي. زه به درنه بيا د جلال آباد په نيت ځم او ته به دې دلته د ترور سره څه موده پاتې شې.

ما او ده دا خبرې ښې وغږنجولې په پای کې مو همدا سره غوټه کړه، چې ترورزی به زموږه کډې راولي. په همدې مو فيصله وکړه او د مازديګر لمانځه ته پاڅېدو. د پاڅېدو په وخت کې هغه راته وويل: که دې خوښه وي، بېګا ته به ټول له تېر شوي جريانه خبر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وی څنګه چې ستا خوښه وي، همغسې به کړو.

د مازدیګر لمونځ مو وکړو، ماښام نزدې و، چې د پرویز د ترور زوی راغی. څلور تنه وسله وال ورپسې وو، ما چې ولیدل، زړه مې دربا پیل کړه. ما وی ګنې بیا راپسې دوستمیان راغلل. له ورایه یې پرویز ته وخندل په تورو برېتو کې یې سپین غاښونه وځلېدل. ویلې ترورزیه لکه چې ټوله ورځ دې په کور تېره کړه. په چټکو ګامونو زموږ خواته نزدې راغی. هغه ورته زه وروپېژندم، پوره د خوند روغبړ یې راسره وکړو.

خپل کلاشینکوف یې ونې ته ځوړند کړ، ویلې زه به اودس وکړم. ماښام دی، نورو ملګرو یې هم اودسونه وکړل. د ماښام په لمانځه ودرېدو، وروسته له لمانځه نه هغه په چالاکۍ سره کور ته ننوت. ورپسې پرویز لاړ. په راغلو کسانو کې یوه یې ګېس ته تیلې وواهه. ګېس یې بل کړو. ما له یوه نه پوښتنه وکړه: انډیواله تاسې همدلته اوسېږې؟

هغه وویل: هو موږ د قوماندان صیب کسان یوو، همده سره ګرځو. زموږ نوره قوه او مجاهد د زغالو (سکرو) دوکان سره پراته دي.

موږ لا په همدې خبرو کې و، چې پرویز دسترخوان څنګ کې نیولی و او راغی. دوه درې هلکانو ډوډۍ راوړه. قوماندان راووت. موږ ټول ګډ سره په دسترخوان کښېناستو. د ډوډۍ په جریان کې قوماندان وویل: بښنه غواړم، هرڅه چې تیار وي، راسره خورئ به یې. زموږ داسې لالهانده وظیفه ده، یوه لحظه خوځېدای نشو. کله جګړه وي، کله هسې خبرې اترې، بیخي خوشې حالت دی. حېران ورته پاتې یو، چې نه یې کوو، دې وطن کې په غیر له دې نه شپې نه کېږي، چې کوو یې، دغسې حال دی. کله داسې هم شي چې په میاشتو کې کور ته نشو راتلای. ما چې هغه ته کتل، د خپلې قوماندانۍ نه خوښ ښکارېده. د ډوډۍ تر پایه یې د خپلې قوماندانۍ خبرې راته وکړې. له ډوډۍ وروسته چای راوړل شو، د چای په اخر کې پرویز هغه ته په غوږ کې څه وویل. ده سمدستي وویل: ښه، ډېره ښه ده. لږه شېبه وروسته قوماندان خپلو وسله والو ته وویل: والکه تاسې پام کوئ موږ د یوه ساعت لپاره دننه ننوزو. هغوی ټول وویل: ښه صیب. هر یوه خپل سلا راواخیستله او شاوخوا د څار لپاره یې تیاری ونیوه. پرویز وویل: شمس الدین خانه ترور مې وایي دی یو وار راننباسه، چې له نزدې نه ورسره وګورم. راځه دننه به لاړ شو. موږ درې واړه کلا ته ننوتلو. د کلا دروازې ته څېرمه یوه لویه هوجره وه، پکې کښېناستو. هلته هم ګېس لګېدلی و. لویه کوټه په قالینو پرش وه، لږه شېبه وروسته د قوماندان مور او لمسیان راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قوماندان مور بوډۍ شوې وه، سترګې يې کمزورې وې، هوجرې ته راننوته. مور ورپاڅېدو، پرويز راته وويل: دا زما ترور ده. ما يې لاسونه ښكل كړل. هغې هم په سر ښكل كړم. د ګېس ترځنګ په توشكه كېنناسته، درې تنه لمسيان او يوه لمسۍ يې ترځنګه كېنښناستل. پرويز وويل تورۍ دا سړی شمس الدين نومېږي، د مزار د شولګرې د لر كلي او سېدونكی دی. زموږ دوست دی، مور سره په يوه كلي كې اوسېږي. له پخوا نه هلته زمكه لري. كلا يې زموږ د مځكې سره نږدې ده. ښه چم ګاونډ راشه درشه سره لرو. نن غرمه مې بازار كې وليد، د كور و كلي پوښتنه مې ترې وكړه، پوره احوال يې راته ووايه. نور نو دغه ستونی ډک ډک شو، زه پرې پوه شوم، چې خبرې ترې ورانې شوې. زر مې ترې خبره ونيوله. يوازې هغه ماته د ژړا په حالت كې لاس ونيو، ويلې دې به درته خپله كيسه او د سترګو حال ووايي.

ما دوی ته زموږ د كلي حالت، د بالاحصار او د ليلي د دښتې كيسه راواخيسته، هغوی ټولو راته غوږ نيولی و. ما چې د خپلو كليوالو چيغې نارې او مرګ په كانټېنرو كې ناستو كسانو ته تر دغه ځايه كيسه راورسوله، بوډۍ په ژړا شوه. د خپل ټيكري پېڅكی يې سترګو ته ونيو، اوښكې يې روانې وې. د كانتينر حالات مې چې لږ نور ورته بيان كړل، پرويز او قوماندان دواړه په ژړا شول. د هغوی د خپلوانو مې هم ورته وويل. ما وی د پرويز ورور او دوه د كاكا زامن راسره په يوه كانتينر كې ناست وو.

تر پايه مې كيسه ورته تېره كړه، په كوټه كې ناست كسان ټول غمګين او په ژړا شول. د هر يوه له سترګو نه اوښكې روانې وې. قوماندان هم د جېب دستمال سترګو ته نيولی و. زما حالت هم چندان نورمال نه و، تر ډېره وخته ټولو وژړل. بيا قوماندان وويل: ددې بې ناموسانو په دغه كار موږ نه يو خبر، خالي دومره خبر شو، چې ډېری پښتانه يې په كانتينرو كې له خپلو كليو نه وړي دي او بلا طالبان يې هم په كانتينرو كې ژوندي اچولي، چې هغوی ټول مړه شوي دي. ولې د كليو د خلكو نه چا څه نه دي ويلي.

له دغه خبرې نه وروسته د هغه رنګ سور واوښت، لږه شېبه په فكر او چرت كې لاړ. پرويز ته موقع په لاس ورغله، وې ويل: ترورزيه نورې خبرې پرېږده، سهار وختي به زموږ په وړو پسې ځې. د شمس الدين خان واړه او زما واړه به راولې. قوماندان شېرخان لومړۍ لږه شېبه غلی شو، بيا يې وويل: لكه چې دا ځل يې په پښتنو پسې رااخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو دې خدای بېخ اوباسي، چې په قدرت کې و، خو ملا او بنیادګر و، اوس چې نیول کېږي او وژل کېږي، پښتون دی. بیا لږ موسکی غوندې شو وې ویل: د الله کار دی، په دې ترکمنو او اوزبکو به چا سلام نه اچاوه، نن د بل په مټ او زور څه نه کوي؟ په غوسه کې یې ډېرې خبرې وکړې. بیا یې وویل: ستاسې فیصله همدا ده، چې ما شومان مو دلته راشي؟.

ما وی قوماندان صیب که ته زموږ کلي ته تلای شې، ډېره به ښه شي. یو وار به د کلي احوال زده کړې. په یو ترتیب سره به زموږ واړه تر دې ځایه راورسوې. زه خپل وطن مومند درې ته ځم. ځمکه او مال به زموږ دهقان ته که ژوندي و، وسپارې او که مړه وو، نو د هغه مېرمن او زامنو ته به یې ورتسلیم کړې او دا به ورته ووایې، څو ورځې وروسته به زما له خوا ورسره بیا نورې خبرې او ملاقات وشي.

قوماندان وویل: ډېره ښه ده، چې ستاسې څنګه خوښه وي، هغسې به وکړو. زه به سبا ته ستاسې کلي ته لاړ شم. همدا خبره یې وکړه او وې ویل: ناوخته دی، شپه تېره ده، راځئ، چې حجرې ته لاړ شو او تاسې لږ خوب وکړئ، نورې خبرې به سبا ته کوو. ولې زه درنه سهار وختي ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ویر کلی

موږ په حجره کې ډډې واچولې، تر ډېره موږ دواړو ته خوب نه راتلو. په همدې سوچ کې چې ایا ماشومان او کلی کور به څنګه وي؟ سهار وختي لمانځه ته جګ شولو، قوماندان د خپلو باډي ګارډانو سره وختي تللی و. موږ د هغه راتګ ته انتظار پاتې وو. دوه ورځې تېرې شوې، په دریمه ورځ هغوی راروسېدل. زه او پرویز دواړه د ماسپښین په لمانځه ولاړ وو، چې وراندې غږ شو ویلی راغلل. موږ لمونځ خلاص کړ، راپورته شوو.

یو هلک راغی، ویلې پلار مې خلک راوستل. موږ د کلا مخې ته ورغلو. کتل مو چې د بازار له خوا هغوی په کڅ کې راروان وو. موږ سمدستي مخې ته ورغلو. غوښتل مو چې پېتې ورسره راواخلو. کله چې د هغوی خوا ته ورغلو، ماشومانو زموږ په لور رامنډې کړې. زما اولادونه ماته راغاړې وتل او د پرویز ماشومان له هغه نه تاو شول. د کڅ په منځ کې زموږ مېرمنو په ژړا پیل وکړ. زما مېرمن څکه ډېر ژړل، چې زه خو د هغیو نه د نورو کلیوالو سره یوځای له کوره راوتلی وم، نور کلیوال خو کور ته نه و ستانه شوي، ټول د کلي پاتې مېرمنې او واړه زاړه په دې پوه شوي وو، چې یا خو بندیان دي او یا یې وژلي دي. قوماندان شېرخان د خپلو کسانو سره زموږ کډې راوستې او د هغوی کلا ته ننوتل. په کلا کې شپږ کوټې وې، د ځای مشکل نه و. ښځې او ماشومان یې سره په کوټو کې ووېشل. موږ نارینه هوجرې ته لاړو. د قوماندان وسله وال ځلور تنه له کلا بهر د وسلې سره په څار بوخت و. شېرخان وویل راځئ موږ درې واړه به په هوجره کې کښېنو. لږه شېبه وروسته چای راوړل شو. چای مو څښو چې قوماندان شېرخان خپلې خبرې داسې پیل کړې:

شمس الدین خانه ماما! له ژوندې مې زړه تور شو، داسې کار د نړۍ په تاریخ کې نه دی شوی لکه ستاسې په کلي کې چې شوی دی. په هغه لوی کلي کې چې له خلکو ډک و هېڅ پاتې نه دي. نارینه یې وژل شوي او پاتې کسانو کډې کړي دي. په ټول کلي کې وګرځېدم، ویر دی او ژړاګانې دي. په هره کوڅه به چې ورتلم، په غېږ له ژړا مې نور څه نه اورېدل. توبه، توبه څه حال دی ستاسې په کلي کې؟ ستاسې په باب مې چاته څه نه دي ویلي، یوازې مې په پټه توګه ستاسې د مېرمنو سره رابطه پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو ماماګانو کورونو ته لاړ نشوم، ځکه چې که چېرته ستاسې کورونو ته تلای وای، رسوايي ګډېدله. دا واړه مې بيا په اسانه نشو راوستلای. دوی ته مې ځای وروښود، لومړی مې ورته ځان وروپېژاند او ستاسې د خولې سوال ځواب او نښې مې ورته وويلې. پس له هغې دوی ټول سرک ته راووتل. په دوو ګاډو کې مې کښېنول او رامې وستل. بې له هغې نه د کلي پاتې ښځې او ماشومان د تېښتې په حال کې وو. هر چا خپلې کډې بارولې. له ما سره په غېږ له دې څلورو تنو نه، نور د تنظيم کسان راسره وو. دا ځينې خبرې خوند نه راکوي، چې په خوله يې يادې کړم. د يوه قوماندان سره مې شپه وه. هغه راته ټولې کيسې وکړې، هغه په ختمه ترکمن دی، مېرمن يې تاجکه ده. ولې ما سره له پخوا نه دوست دی. په غير له تنظيم او جهاد نه ما او هغه ډېر کلونه سره يوځای په څو جبهو کې سره تېر کړي دي. يو له بله مو هېڅ پټ نه دي. ددې ماشومانو په رايستو کې راسره تر پايه مرسته وکړه. پېګانه اېل بېګاه مې ورسره شپه وه، د تېرو څو شپو تېرې شوې کيسې يې راته وکړې. هغه راته دا خبره هم وکړه:

ويلې په غېږ له دغه کلي، يانې ستاسې کلي نه په غير نورو کليو کې هم همدغسې عمليات شوي دي، خو يره په دې کلي کې له حده زيات ظلم شوی دی. ما وی د ظالم بچي ته په دې عملياتو کې وی. کسم يې راته وکړو. ويلې ښځه دې رابانددې خور شي، چې زه قصدي پخپل کور کې وم. يوه هفته وظيفه کې نه وم، زه خبر وم، چې په دې کليو باندې همدغسې عمليات کوي. زما کسانو به راته راپور راوړو. وخت په وخت به خبرېدمه، غم او غوسه مې پسې زياتېدله، ولې چاره څه وه؟.

دا لا څه کوې، تاته يو بل راز هم وايم، ځکه چې يار مې يې. داسې خبره مې اورېدلې ده، چې په دې سيمه کې د تللو پښتنو نه ځمکې اخلې او کډه کولو ته يې مجبوروي. خو پام دې وي چې زما دا خبره بل چاته ونه کړې. دا يې راته وويل او زه ترېنه بيا رابيل شوم. دلته په بغلان او پلخمري کې اکثره پښتانه دي. که زه او يا ما غونډې څو نور د دوی سره سر ونه خوزوو (د شمالي ټلوالې) سره، دا پاتې پښتانه هم بې ابې او سپکاوي ته رسېږي. په زړه مو کله قبلېږي، هغه داسې ورته ډېرې خبري ګوکړې. بيا يې وويل پرويز ماما دوی د ټولې کورنۍ احوال مې واخيست. لکه څنګه چې شمس الدين خان ورور پخپلو سترګو هرڅه ليدلي کتلي دي، هماغسې شوي دي، خو خلک لا په کلي کې د اصلي واقعې او پېښې نه سم خبر نه دي. زيات يې پوه دی، چې د کلي ټول خلک يې د ليلى په دښته کې وژلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په همدې سبب سره کلي ته د ننه ورننوتم نه. له بهره مې ټول معلومات واخیست. کلی ورځ په ورځ تشېږي، کډې ترې روانې دي، ما هم چالاکي کوله، چې ژر ستاسې ماشومان راوباسم. زما له لاسه همدومره کېدل، نور نو ستاسې خپله خوښه ده !.

د خبرو وار مارته راورسګېد:

وروره ! تا دي خدای ژوندی لري، ډېر لوی احسان دې په ما وا ړاوه، ترڅو ژوندی یم، دا مرسته او احسان به دې هېر نه کړم. زما به له خدایه سمه وه ، ګنې په دومره اسانۍ سره دا کار نه کېده. له ښه مرغه، چې پرویز مې په بازار کې ولید او دلته یې راوستم، که نه خدازده په کومو ځایونو به ګرزېدئ؟.

قوماندان صاحب زه داسې فکر کوم، چې دا خلک پښتانه په ترکستان زمین باندې نور نه پرېږدي. د طالبانو دې کور وران شي، ډېر زیات یې قهرولي دي. طالب او ناطالب نه ګوري، خو چې پښتو وایي، بې مرګه یې نه پرېږدي. د ترکمنو ، اوزبکو او هزاره و سره دا تاجک ګفته ټول د پښتون په بربادۍ او نابودۍ پسې یې دا ځل بدې وهلي دي.

قوماندان شېر خان وویل: هو ، هو همدغسې ده، د ټولو یوه خبره ده.

پرویز له د خبرو وار ورغی، ده وویل:

اوس خو مو سر له راغلي ده، د پېښې نه تېښته نشته دی. ولې پښتانه خو بلا وهلي نه دي؟ په اتفاق دې ټول پښتانه په یو اواز سه خارجي راغلو قواوو ته (امریکایانو ته) ووایي، چې دا وطن د پښتنو د اکثریت خاوره ده. له پخوا زماني نه راپدې خوا یې د خارجي یرغلګرو نه دا خپله خاوره ساتلې ده. دا اوس دا خلک د امریکایي او انګلیسي عسکرو او قوتونو په زور پښتانه وژني، له خپلې ځمکې یې باسي او د القاعده او طالب په نوم یې خارجیانو ته په ګوته کوي. دا عمل غېر انساني او غېر افغاني عمل دی. دا خارجي قواوې باید پوه کړی شي. په کرار کښېناستو خو نه کېږي.

قوماندان د پرویز خبره ونیوله، ویلې ماماجانه ! که رښتیا راباندې وایې، په کوم پښتون دا اواز جګوي؟ په دا پېنځه ویشتو کالو کې دې پښتون پاچاهي نه کوله، خو اصلاً هغوی له سره پښتانه، نه وو. د پردو غلامان وو. سبا ته همدا خبره ده او بیا هم همدغه حال دی.

د پښتنو کیسه دې مفته ده، د ځان، مال او بچو غم وخورئ، پښتانه پرېږده، چې تشې لاپې شاپې وکړي. هغه پخواني پښتانه، نه دي پاتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما بیا د خبرو وارونیو، ما وې: شېر خان قوماندان صیب ستا د خبرو سره زه موافق یم، خو یوازې دومره ویلی شم، چې داسې هم نه ده، چې دوی څنګه فکر کړی دی. په افغانستان کې ټولو سیاسي ډلو ټپلو خپل وار تېر کړو، هر چا د افغانستان خلکو ته خپلې نادودې پرېښودې. نن دې شېر پنجشېر او شمالي ټلواله هم خپل وار تېر کړي. ولې دا ناروا چې دوی رااخیستې ده، هېچا په تاریخ کې داسې نه دي کړې. لکه چې دوی وکړل. په افغانانو هېڅکله د چا بدل چاته نه دی پاتې شوی، ترڅو به داسې وي. زمونږ غټ عیب او قصور دا دی، چې سره په اتفاق نه یو. پخوا هم همدا خلک وو، دوی له مونږه ځل وهلی نشو، خو له دا ځینو پښتنو له لاسه په مونږه داسې شپې ورځې راغلې دي. ټولې نړۍ ته یې لکه د ببو غوندې وروپېژندلو. ته والله د یوه ملک پاچاهي چې طالب ته پاتې شي، نو د داسې ملک به څه حېثیت وي؟ قوماندان صیب، چې رښتیا راباندې وایې، دا کارونه چې دوی وکړل، د اسلام په تاریخ کې کله داسې شوې دي؟.

مطلب د پښتون شمله یې راټیټه کړه. طالبان خو د بل چا په مرسته د څو تنو لوږ پوړي خرڅ شوي غلامان طالبان وو، چې پخپله مخه ولاړل. په نوم طالب خو یې ټول پښتانه دل کړل. اوس نو بله چاره نشته دی، هرڅه چې دي په ځان به یې تېروو. پرویز را نه خبره ونیوله. ویلې شمس الدین خانه وروره! راځه چې اوس ددې خپلو ماشومانو او د خپل سر غم وخورو. شپه په وتو ده، اوس به خپلې خبرې وکړو. ته څه تصمیم لرې، چې څنګه وکړې؟.

ما وی زه خو وروره تاسې ته صفا خبره کوم او هغه دا چې زه چې ژوندی یم، نور به خپل کلي ته لاړ نشم، ځکه چې په کلي کې څوک نه دي پاتې. اوس نو هلته ژوند خوند نه راکوي. ځمکه او کلا، مالونه مې دهقان ته پاتې دي. زړه مې دی څه موده وروسته دغه ځمکه کلا هرڅه خرڅ کړم، څو خپل وطن ته لاړ شم. پاتې ژوند د خپل پلار نیکه په پخواني کلي تېرکړم. سبا ته به له خیره د کابل په لور وخوزېږو. رښتیا قوماندان صیب! د سالنګ لاره څنګه ده، تګ راتګ پرې کېږي؟ هغه وی: هو تر پرونه خو د سالنګ لاره خلاصه وه، چې خلاصه وي ښه ده. مونږ به سهار ته په خیر سره له تاسې نه رخصت شو. قوماندان شېرخان وویل: ماما ولې یو څو شپې خو به مو راسره تېرې کړې وای. ما وی: تاسې دې الله ژوندي لري، که ژوند باقي وو، زه یو ځل بیا څه موده پس بېرته دلته راځمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرویز وویل: سمه ده تاسې دې خدای په خیر سره خپل وطن ته ورسوي، موږ به تر هغې دلته یو نو ترڅو چې وروسته نور څه پېښېږي. نور نو شپه زیاتې په وتو وه، قوماندان وویل: اوس به ویده شو، سهار به له خیره بیا څنګه چې ستاسې خوښه وه، هغسې به وکړو.

شپه تېره شوه، سبا شو. وختي لمانځه ته پاڅېدو، وروسته بیا چای وڅښل شوې. قوماندان شېرخان وختي یو تن په موټر پسګي بازار ته لېږلی و. لږه شېبه وروسته هغه راغی. ویلې موټر مو دربس تر کابله نیولی دی. موټروان ویلي سورلی دې راولـه، چې حرکت وکړو. د سالنګ لاره نامعلومه غونډې ده، څومره چې په وخت لاړ شو، ښه ده. ما خپلې مېرمنې ته وویل واړه درسره سنبال کړه، چې ځو په خیر. په دې وخت کې قوماندان شېرخان او پرویز دواړو جېب ته لاس کړو، پیسې یې راوویستې او ماته یې ونیولې. شېرخان پیسې زما جېب ته راختا کړې، ما بېرته ورکړې. ویلې وروره! ته په سفر ځې، ماشومان درسره دي، چېرې بند پاتې نشئ. ما وی کور دې ودان. زما مېرمنې له کوره ځان سره پوره پیسې راوړې وې. ګومان کوم، چې خدای به مو بګد نه پاتې کوي. د هغه مور او ماشومان، مېرمن یې او موږ ټول سره په یوه ځای لاسونه پورته کړل، دوعا مو وکړه. بیا ما هغوی ته وویل: ستاسې ښېګڼې به نه هېروم. تاسې دې الله ژوندي لري. قوماندان صیب، پرویز خانه څو ورځې وروسته به زموږ د کور، کلي، ځمکې او زموږ په دهقان به درسره ټینګه وکړئ، چې په هرڅه ورسره پام وکړي. زه په خیر سره بېرته زر راګرځم او که دې وکولای شوای، زموږ دهقان ته د کوم باوري سړي په خولې ځواب ورولېږه. ورته ووایه شمس الدین روغ جوړ دی، خپل واړه یې د څو ورځو لپاره مومند درې ته بیولي دي. څه موده وروسته بېرته راځي. زما خو اصلي خبره ستاسې سره ده، چې زه بېرته که ژوندی وم، خپل کلي ته به دوباره ور ونه ګرځم.

زه به بیا په کلي څنګه سترګې ولګوم؟ وروڼه، خپلوان او کلیوال به نه وي او زه به یوازې په کلي کې ژوندی ګرځم. نه، نه دا نشم کولی. پرېږده، چې زه هم خپلو کلیوالو او پښتنو ته خپله پښتنو او ننګ وروښیم. پرویز جانه که چېرته کلي ته لاړې، په ټول کلي او کاڼو بوټو باندې به زما سلام وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو د خدای په امان، د کور له ټولو غړیو نه مو مخه ښه راواخیستله. یوازې شېر خان او پرویز راسره تر موټره ولاړل. د پلخمري ښار د کابل موټر تم ځای ته ورسېدو، زموږ موټر تیار و، ما شومان موټر ته ورو ختل. ما له قوماندان او پرویز نه خدای په اماني واخیستله. دوی لا ولاړ وو، چې موټر روان شو. هغوی را ته لاسونه خوځول، چې زموږ موټر په دوړو کې راپناه شو.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندۍ پېښه

ادب په هره ټولنه کې د اصلاح او سمونې لپاره ډېر مهم رول لوبولی دی، په هره ټولنه کې څه ناڅه نیمګړتیاوې او ناانصافۍ موجودې وي، چې د اصلاح او رغونې لپاره یې شاعران، لیکوالان او ادیبان د خپل قلم په ذریعه ډېر کار کوي.

وایي چې ښه قیصه، ناول، افسانه یا ډرامه هغه وي، چې لوستونکي پل په پل د ځان سره بیایي، تر هغې چې د قیصې د پای ټکي ته نه وي رسېدلي.

د افغانستان تېر پېنځه ویشت کلن ناورین او غمیزې هم ډېرې بدمرغه او دردونکې قیصې په خپله سینه کې ځای کړي دي، په دغه غمېزه کې په بې وزله افغانانو او بیا په خاصه توګه په پښتنو ډېر ناوړه او بې دریغه ظلمونه شوي دي. د ډله ایزو وژنو قرباني هم اکثر پښتانه دي، چې ښه مثالونه یې د کونړ د کرهالي او د لیلی د دښتې ډله ایزې ټول وژنې دي، پښتانه تل کله د ملا او طالب په نوم، کله د مجاهد او اشرار په نوم، کله د کمونست (خلقي او پرچمي) په نوم زورېدلي دي او د ظلم د وخت د هر دور چارواکو او ټوپک سالارانو په مختلفو پلمو (چلونو) په دغه بې ګناه او بې وزله خلکو خپله خواه یخه کړې ده.

د دغه ظلمونو او ډله ایزو وژنو یوه بدمرغه پېښه د "لیلی د دښتې" ده، چې د هېواد د شمال د دغه ناوړه پېښې انځور محمد اجان یار په دې کتاب (د لیلی دښته، د سترګو لیدلی حال) قیصه کې په ډېر ساده او روانه لهجه په مختلفو کردارونو کې رانغښتې او په داسې انداز کې یې تمثیل کړې، چې لوستونکي به د کتاب د لوستلو په وخت حتماً دا فکر او سوچ کوي، چې محمد اجان یار د دغه پېښې د خپلو سترګو شاهد دی.

د پښتونخوا د پوهنې دېره د تېرو څو کلونو راهیسې هڅه او زیار کوي، چې د پښتنو لیکوالانو سره د کتابونو په چاپ او سمبالښت کې مرسته وکړي، ترڅو د پښتو د ادب زار لمن د هر راز ادبي رنګینیو څخه ډکه شي، چې په دې سلسله کې یې په زیات شمېر کې کتابونه د مینه والو لاسونو ته رسولي دي.

د ښاغلي محمد اجان یار دا دوهم کتاب دی، چې د پښتونخوا د پوهنې دېرې په زیار خوربږي، له دېنه وړاندې د یار صیب د یو ښکلي ناول "څانګه" د خپرېدو ویاړ هم د پوهنې د دېرې په برخه شوی، چې هغه ناول "څانګه" هم د یوې ژوندۍ پېښې او یوې پښتنې پېغلې د ژوند داستان و، چې د لوستونکو د پام وړ ګرځېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د ليلى دښته د سترګو ليدلى حال) هم د افغانستان د غميزې يو تاريخي او حقيقي قيصه ده، چې محمد اجان يار په ښکلې او ښه توګه انځور کړې ده. په دې قيصه کې د اسې کردارونو ته ځاى ورکړل شوى، چې د پښتنې د تل (برخ) عکاسي کوي، د مظلومانو ژړا او فرياد د انساني حقونو د علمبردارانو غوږونو ته رسوي او د ټوپک سالارانو او ظالمانو د تورو مخونو څخه پرده پورته کوي، کوم چې د ژبې، قوم او نسل په نوم يې په پښتنو هر راز وحشيانه او نه بخښونکي ظلمونه کړي دي.

د ليلى دښتې د ډله ايزو وژنې خبرونه او راپورونه خو مو د ورځپاڼو، مجلو، خبري رسنيو او راډيوګانو په وسيله اورېدلي و، مګر د دغه بې رحمانه ټول وژنې اصلي منظر زما په خيال تر اوسه په کتابي شکل نه دى راغلى. دا د محمد اجان يار کمال دى، چې د دغسې دردونکو پېښو څخه يې په ډېر هنر پرده پورته کړې ده.

تېر کال زما د يار صيب سره په جرمني کې ليدل کتل وشو، ما د هغه ځينې شعري ټولګې هم لوستې وې، هغه زما څخه د دغه نورو کتابونو د چاپ په هکله د مرستې غوښتنه وکړه، نو هماغه و چې د "ځانګه" ناول څخه وروسته دا دوهم کتاب هم چاپ شو. زما په آند (فکر) يار صيب په شعر، ناول او څېړنيزو ليکنو پوره پوره ازمېښت کړى دى. د هغې ټولې ليکنې د قدر وړ دي، خو د دې وروستيو کتابونو د چاپ څخه دا په ډاګه کېږي، چې په قيصه او ناول ليکلو کې يار صيب پوره تجربه او لاس برى لري او دا ځکه چې هغه د ولس په ژبه په ساده او روانه لهجه د قيصې شروع او انجام په ډېر ښه توګه تمثيلوي. دا به په دې مانا نه وي، چې نورې ليکنې يې په زړه پورې نه دي، خو کوم خوند او مزه چې د هغې په نثري ليکنو خصوصاً په قيصه او ناول کې دى د يادونې وړ بولم، ځکه د دغه ټولې قيصې او پېښې د افغانستان د اوږدې غميزې سره جوخت تړون لري او باالکل حقيقي او يا حقيقت ته نژدې دي. که څه هم د محمد اجان يار په دې کتاب کې به ځينې تېروتنې او نيمګړتياوې هم وي او په ځينو ځايونو کې به د مبالغې څخه هم کار اخيستل شوى وي، خو په حقيقت کې قيصې ته د رنګ او ښکلا ورکولو لپاره دا هرڅه ضروري وي. زه د پښتو ژبې د خدمت په دغه سفر کې محمد اجان يار ته لا ډېر برياليتوبونه غواړم.

عبدالبصير بيدار

د پښتونخوا د پوهنې د دېرې مرستيال

پېښور، پښتونخوا

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library